# موضوعي

(يعنی دځانه جوړ شوي)

# حديثونه

تاليف

الشيخ ابومحمد امين الله البشاوري حفظه الله

مكتبه محمديه

Ketabton.com

تمام حقوق محفوظ دی

**کتاب**

**موضوعی (یعنی دَ ځانه جوړ شوی)**

**حدیثونه**

**تالیف**

ابو محمد امین الله حفظه الله

**اضافه**

ابو سلمان حضرت محمد حفظه الله

**تاریخ طباعت**

۱۱/۳/۲۰۱۰ ربیع الاول ۱۴۳۱ھ

ناشر

**مکتبه محمدیه**

بیرون گنج گیټ منگل مارکیټ پیښور

0301 8828402

ولی الله



بسم الله الرحمن الرحيم

# مُقَدِّمَة

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَالصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِنَا مُحَمَّدٍ الصَّادِقِ الْاَمِیْنِ وَعَلٰی آلِهٖ وَاَتْبَاعِهِ الْمُؤْمِنِیْنَ.

**امابعد** : نبی کریم ﷺ باندے دروغ جوړول ډیر لوئی جُرم او عظیمه گناه ده۔ په دے باره کښې زهٔ یو څو حدیثونه لیکم، چه په نبی ﷺ څوك دروغ جوړ کړی، نو دهغه ځومره عذاب دے۔

۱- حدیث ابی هریرة رضی الله عنه الذی اخرجه الشیخان وغیرهما عن النبی ﷺ :

مَنْ كَذَبَ عَلَيَّ مُتَعَمِّداً فَلْيَتَبَوَّأْ مَقْعَدَهُ مِنَ النَّارِ.

**ترجمه** : نبی ﷺ فرمائی : چاچه په ما قصدًا دروغ جوړ کړل ، نو اور کښې دے ځان له ځائ جوړ کړی۔

دا حدیث متواتر دے د عشره مبشره ؓ نه نقل دے داسے

(c) ketabton.com: The Digital Library



حدیث به چرته ونه مومئ چه عشره مبشره ؤ په اتفاق سره نقل کړے وی۔ سیوا ددے حدیث نه۔ بلکه دا حدیث تقریباً ابن جوزیؒ په یوشپیتو (٦١) سندونو سره اوپه بل کتاب کښ په اته نوی (٩٨) طرقوسره نقل کړے دے۔

اوملاعلی قاریؒ دابو هریره،انس ،مغیره بن شعبه، ابن الزبیر، سلمه بن الاکوع، ابن عمر، ابن مسعود، ابوقتاده، ابوسعید الخدری، ابوبکر،عمر، عثمان رضی الله عنهم او د نوروګڼرو صحابهؤ نه په مختلفو الفاظو سره نقل کړے دے۔ په دے حدیث کښ ډیر زجر اور تنبه ده۔ تردے چه علماؤ لیکلی دی چه په کبیره ګناه سره سړے نه کافر کیږی، مګر څوك چه په رسول الله ﷺ دروغ جوړوی، نو هغه کافر دے۔

او دا حدیث نبی علیه السلام په هغه وخت کښ وئیلے وؤ، چه یوسړے وؤ، د مدینے والوکورته ورغے، او دائے اووئیل چه ماته نبی علیه السلام حکم کړے دے چه زه چرته شپه کوم نو زماخوښه ده۔ اودے په اصل کښ په یوه ښځه عاشق شوے وو، نو هغه خلقورسول الله ﷺ ته خبرورکړو۔ نونبی علیه السلام ورپسے ابوبکر اوعمر



رضی الله عنهما اولیږل، اودا ئے ورته اوفرمایل : که چرته ژوندے مو اوموندلو نووے سیزئ په اور باندے، لیکن هغه سړے دشپے راوتے وؤ۔ اویوغټ مار چیچلے وؤ۔ اومردار شوے وو، اونبی ﷺ مخکښ دا فرمایلی وؤ چه شاید ستاسے د ورتلو نه مخکښ به الله تعالی هلاك کړے وی، بیائے داحدیث وفرمایلو، کوم چه مخکښ بیان شو۔

٢- امام نوویؒ په شرح د مسلم کښ وائی چه د موضوعی حدیث روایت حرام دے۔

لیکن دا خبره یاد ساتل پکاردی، چه دا موضوعی حدیثونه چاجوړکړی دی، نودا یوڅو ډلے دی۔

(١) **اوله ډله زندیقان :**

چه مقصد ئے دین ورانول او ختمول وؤ۔ لیکن علمائے کرامو دصحیحو اوغلطو چڼول شروع کړل۔لکه ابن عساکرؒ راوړی دی چه یو زندیق هارون الرشید ته راوستلے شو،نو هغهٔ حکم اوکړو چه مردارئے کړئ۔ نو هغه وئیلے : ماخوڅلور زره حدیثونه دځانه جوړکړی دی۔ حرام مے پکښ حلال کړی دی ، او حلال مے حرام کړی دی، نو هغے سره به څه کوے ! نو هارون الرشید وویل، چه عبد الله بن

(c) ketabton.com: The Digital Library


مبارکؒ او ابن اسحاق الغواریؒ تا ته نهٔ دی معلوم، چانړ به ئے کړی اویو یو حرف به ئے را اوباسی ۔

**دویمه ډله** قصاصین (قیصه ګو واعظان) :

دا قصه ګو مقررین دځانه حدیث جوړوی او خلق به دهوکه کوی لکه وائی چه یوه ورځ اعمشؒ بصرے ته لاړو نویو قصه ګوئے ولیده ، چه خلق ترے راتاؤ شوی دی۔ نودے ورغے ، اومخکښ ئے کیناستو ، او دَ ترخ ویختہ ویستل ئے شروع کړل، نو قصه ګو ورته وویل چه اے بے ادبه دلته دَ دین خبره کیږی اوته د ترخ نه ویخته وباسے نو هغه ورته وویل چه زه سنت کارکوم، اوته بدعت کوے، نوزهٔ ستانه ښه کارکوم۔

**دریمه ډله : متصوفه (صوفیان، پیران)**

صوفیان (پیران مریدان) وائی : په ترغیب اوترهیب کښ د ځانه حدیث جوړول ښه دی ۔ ځکه چه دا دروغ د رسول الله ﷺ دپاره دی۔ چه خلق دین ته راشی اوپه رسول الله ﷺ دروغ نهٔ دی لکه دَ یو کس نه تپوس اوشو چه داولے جوړوے ؟ هغه وویل چه ماخلق ولیدل ، چه نور کتابونو سره به ئے مینه کوله۔ نوما د قرآن د ترغیب



دپاره ډیر حدیثونه جوړ کړل۔ لیکن داخبره ډیره دجهل ده۔ ځکه چه د رسول الله ﷺ صحیح اقوال او احادیث شته، نودځانه خبره څه له جوړوے۔

**څلورمه ډله : شیعه ګان :**

هغوی د علیؓ په باره کښ او یازره احادیث جوړ کړی دی ۔ او دَ اهل بیتو په باره کښ ئے هم ډیرے خبرے جوړے کړی دی ۔

**پنځمه ډله : مبتدعین او معتزله :**

بعض مبتدعینو او معتزله خلقو دخپلوبدو عقائدو دپاره منګرت او دروغژن رایتونه جوړ کړی دی۔د موضوعی احادیثو مثال داسے دے لکه دغوشیانو دپاسه د سرو اوبه اولګوے ، نو هغه زرګر پیژنی۔ دارنګ علمائے محدثین دغسے غلط روایتونه پیژنی ، او په خپلو کتابونو کښ ئے دَ نشاندهئ د پاره لیکلی دی ۔ ځکه چه دهرے یوے فتنے د پاره الله جل شانه نیکان پیدا کوی چه دهغے ردکوی ، او صحیح دین خلقوته رسوی ۔ دوی ته په حدیث کښ غرباء ویلے شوی دی ۔ الله رب العزت نه دعاکوم چه ما اوزما استاذان او دوستان په دے قسم خلقو کښ

(c) ketabton.com: The Digital Library



شمار کړی۔ آمین !

**شپږمه ډله :**

بعض اهل سنت چه هغه ناپوهه دی، د شیعه گانو په ردکښې د ابوبکرؓ او عمرؓ په فضیلت کښې ئې حدیثونه جوړکړی دی، لیکن صحیح روایتونه د هغه حضراتو په باره کښې ډیر دی۔ نو موضوعي روایتونو ته هیڅ حاجت نشته۔

**اوومه ډله : متعصبین :**

بعض متعصبینو دَ خپل مذهب دَ نصرت او تائید دپاره احادیث جوړ کړی دی۔ ځکه چه د مذهب تعصب سړے دحق دین نه اړوی۔ اولاً دده په ذهن کښې یوه غلطه خبره ناسته وی۔ نو که ته ورته قرآن، حدیث، قول د صحابه کرامو پیش کوے، نو هغه ئې نهٔ قبلوی۔ او غلط دلیلونه جوړوی، او د خپل مذهب نصرت کوی۔ انابت والا ډیر کم دی۔ الا ماشاء الله۔

**اتمه ډله :**

بعض خلقو د بادشاه دنزدیکت دپاره د هغه د خوښے حدیثونه جوړکړی دی۔



**نهمه ډله :**

هغه کره خلق چه اول په حدیث ښه پوهه ؤ، لیکن چه بوډاگان شو، نو قوت حافظه ئې خرابه شوه نو غلط روایتونه د هغوی د خلے نه بے اختیاره اووتل۔

**لسمه ډله :**

بعض هغه ؤ چه خطاء حدیثونه ئې اول نقل کړل، بیا پوهه شو چه ما خو غلط روایت پیش کړو۔ نو د شرم د وجهے نه ئې ځان غلے که۔

**یوولسمه ډله :**

هغه خلق چه په کتاب کښې به ئې حدیث لیکل، بیا به ترے کتاب ورك شو، نو په یادو به لگیاوؤ، نو خطا به شو۔ نو علمائے کرامو د حدیثونو تتبع او تلاش شروع کړو۔ نو صحیح او حسن او ضعیف او موضوعي روایتونه ئې یو بل نه جدا کړل۔ او په هر یو باندے ئې نشاندهي وکړه۔ لیکن روسته خلق راغلل او هغه موضوعي روایتونه ئې بغیر د سند نه او بغیر دحوالے نه په بل کتاب باندے په خپلو کتابونو کښې ذکر کړل۔ نو عامو خلقو ته ډیر نقصان ورسیدهٔ۔ ځکه هغوئ وائی چه په کتاب کښې لیکلی دی،

ولې ته کتاب نهٔ منې، دومره معلومول پکاردي چه په هرکتاب کښې څهٔ نه څهٔ خطائی وی بغیر د قرآن کریم نه - نو که چرته د کتاب مسئله د قرآن او صحیح سُنت سره موافق وی، نو منئ ، اوکه نهٔ وی نو په دیوال باندې ئې ولئ، که چرته سړې د هر کتاب خبره منی، نو گمراه به شی--

نو زهٔ وس په مقصد کښې شروع کوم -

وما توفیقی الا الله علیه توکلت والیه انیب -

OOOOOO

(c) ketabton.com: The Digital Library


# بسم الله الرحمن الرحیم

۱- اَللّٰهُمَّ اَنْتَ السَّلَامُ وَمِنْكَ السَّلَامُ وَ اِلَيْكَ يَرْجِعُ السَّلَامُ فَحَيِّنَا رَبَّنَا بِالسَّلَامِ وَاَدْخِلْنَا دَارَكَ دَارَالسَّلَامِ.

**ترجمه** : یاالله ته سلام ئې ، اوستا نه سلامتیا ده، اوتا ته سلام راگرزی، پس دَ سلام (بخشش) اوډالئ مونږ ته هم راکړه، اومونږ خپل کوردَ سلامتیا ته بوزه-

**تشریح** : دا حدیث موضوعی یعنی دَ ځانه جوړ شوې دې، د حدیثو په یو کتاب کښې هم نشته بلکه ملاعلی قاریؒ وائی چه ددې هیڅ اصل نشته، او بعض قصه گو جوړ کړې دې - اوصحیح حدیث داسې دې :

اَللّٰهُمَّ اَنْتَ السَّلَامُ وَمِنْكَ السَّلَامُ تَبَارَكْتَ يَاذَا الْجَلَالِ وَالْاِكْرَامِ .(متفق علیه ).

۲- د اوداسهٔ دَ هراندام وینځلو په وخت ذکر کول :

لکه په وخت د مضمضه کښې :

(c) ketabton.com: The Digital Library



اَللّٰهُمَّ اَعِنِّیۡ عَلیٰ ذِکۡرِكَ وَشُکۡرِكَ وَتِلَاوَةِ الۡقُرۡآنِ

لوستل۔

او دَ استنشاق (یعنی پوزے ته د اوبو اچولو) په وخت کښی اَللّٰهُمَّ اَرِحۡنِیۡ رَائِحَةَ الۡجَنَّةِ وَلَا تُرِحۡنِیۡ رَائِحَةَ النَّارِ، تر آخره پورے ۔ داموضوعی دے۔ بلکه په اودس کښی صرف دوه ذکرونه ثابت دی ۔

یو بسم الله ویل په اول د اوداسهٔ کښی دی۔

دویم : د اوداسهٔ په آخر کښی :

اَشۡهَدُ اَنۡ لَّا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَحۡدَهٗ لَاشَرِیۡكَ لَهٗ وَاَشۡهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا عَبۡدُهٗ وَرَسُوۡلُهٗ.

اویله : سُبۡحَانَكَ اللّٰهُمَّ وَبِحَمۡدِكَ اَشۡهَدُ اَنۡ لَّا اِلٰهَ اِلَّا اَنۡتَ اَسۡتَغۡفِرُكَ وَاَتُوۡبُ اِلَیۡكَ .

(بخاری، مسلم) او دَ ترمذی په روایت کښی ورسره :

اَللّٰهُمَّ اجۡعَلۡنِیۡ مِنَ التَّوَّابِیۡنَ وَاجۡعَلۡنِیۡ مِنَ الۡمُتَطَهِّرِیۡنَ .

هم شته۔

۳- مَنۡ قَضٰی صَلٰوةً مِنَ الۡفَرَائِضِ فِیۡ آخِرِ جُمۡعَةٍ مِنۡ شَهۡرِ رَمَضَانَ کَانَ ذٰلِكَ جَابِرًا لِکُلِّ صَلٰوةٍ فَائِتَةٍ فِیۡ عُمۡرِهٖ اِلٰی سَبۡعِیۡنَ سَنَةٍ :



بَاطِلٌ قَطۡعًا لِاَنَّهٗ مُنَاقِضٌ لِلۡاِجۡمَاعِ .

**ترجمه** : نبی ﷺ فرمائی : چا چه یو فرض مونځ قضا او گرزولو په آخره جُمعه د روژے د میاشتے، نودهٔ ته به دَ اویا کالو مونځونه معاف شی۔

دا حدیث باطل او دروغ دی اوسو چه دروغ دی، ځکه چه د اجماع نه خلاف دے ۔

**تشریح** : ددے زمانے بعض مشرکانو اوبدعتیانو مُلایانو دَ خپلے خیټے او د مال د حصول دپاره ډیرے وسیلے او ذریعے جوړے کړی دی ۔ ځکه چه دوی خو غلا، جواری اوسودونه ښکاره نشی کولے۔ نو دَ خلقو دپاره ئے بدعات ایجاد کړل ۔ لکه قضاء عمری شوه، دریشتمه شوه، اسقاط شو۔ او د ځانه حدیثونه ئے دے دپاره جوړ کړی دی او خلق گمراه کوی ۔

۴- دَ اذان نه روسته خلق داسے دعا وایی :

اَللّٰهُمَّ رَبَّ هٰذِهِ الدَّعۡوَةِ التَّامَّةِ وَالصَّلٰوةِ الۡقَائِمَةِ آتِ مُحَمَّدًا الۡوَسِیۡلَةَ وَالۡفَضِیۡلَةَ وَالدَّرَجَةَ الرَّفِیۡعَةَ وَابۡعَثۡهُ مَقَامًا مَّحۡمُوۡدًا الَّذِیۡ وَعَدۡتَّهٗ وَارۡزُقۡنَا شَفَاعَتَهٗ یَوۡمَ الۡقِیٰمَةِ اِنَّكَ لَا تُخۡلِفُ الۡمِیۡعَادَ.

**ترجمه** : یاالله ته ددے کامل دعوت او دَ اودریدونکی

(c) ketabton.com: The Digital Library



مانځه رب ئے ! ورکړے نبی ﷺ ته وسیله اوغوره والے (وسیله جنت کښ یو ځائے دے) او اوچته درجه ـ او اوولیږه ے دے مقام محمود ته چه تاورسره وعده کړے ده، او دَ هغهٔ سفارش زمونږ روزی کړے په ورځ د قیامت ته دخپلے وعدے نه خلاف نکوے ـ

**تشریح** : دا قسم الفاظ په حدیث کښ نشته یعنی (وَالدَّرَجَةَ الرَّفِيْعَةَ ) پکښ نشته ـ او :

وَارْزُقْنَا شَفَاعَتَهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

هم پکښ نشته ـ

بلکه صحیح دعاء داسے ده :

اَللّٰهُمَّ رَبَّ هٰذِهِ الدَّعْوَةِ التَّامَّةِ وَالصَّلَاةِ الْقَائِمَةِ آتِ مُحَمَّدًا الْوَسِيْلَةَ وَالْفَضِيْلَةَ وَابْعَثْهُ مَقَامًا مَّحْمُوْدًا الَّذِىْ وَعَدْتَّهُ وَارْزُقْنَا شَفَاعَتَهُ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ

(بخاری مسلم)

اوبیهقی کښ [اِنَّكَ لَا تُخْلِفُ الْمِيْعَادَ] ورسره زیاتی دے ـ لیکن شیخ البانیؒ ددے په باره کښ فرمائی چه دا زیاتی جمله شاذ ده ـ [ارواء الغلیل : ۱/ ۲۶۰]

نبی ﷺ چه کوم ذکرونه خودلی دی ، په هغے کښ



زیادت او نقصان جائز نهٔ دے ، بلکه بدعت دے ـ

او په بنی اسرائیلو باندے الله تعالی په همدے وجه عذاب نازل کړے وو ـ

۵ - عَنْ اَبِىْ بَكْرِ الصِّدِّيْقِ رَضِىَ اللّٰهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِىِّ ﷺ مَنْ مَسَحَ الْعَيْنَيْنِ بِبَاطِنِ اُنْمُلَتَىِ السَّبَّابَتَيْنِ عِنْدَ قَوْلِ الْمُؤَذِّنِ اَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا رَّسُوْلُ اللّٰهِ حَلَّتْ عَلَيْهِ شَفَاعَتِىْ . لَا يَصِحُّ.

**ترجمه** : ابوبکرؓ فرمائی چه نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چه چا دَ مسواکئ گوتے سرونه په سترگو راخکل په وخت د اذان کښ چه کله مؤذن اشهد ان محمدا رسول الله ته ورسیږی نوزما سفارش دهٔ له حلال شو ـ

دا حدیث صحیح نه دے ـ بلکه دا چا دَ ځانه جوړ کړے دے ـ

**تشریح** : بعض خلق ځان ته مُحِبّان رسول وائی ـ دَ هغه دَ سُنتو اتباع پکښ نهٔ وی ـ لیکن څه بدعات او رسمونه به ئے ایجاد کړی وی ، کچرته ته هغه ونکړے، نوتاته قِسما قِسم نومونه گدی ـ اوحال دادے چه هغه چرته په حدیث کښ نهٔ وی ثابت ـ دا طریقه حدیثونو کښ نشته وگورئ احادیث ـ

(c) ketabton.com: The Digital Library



٦- لَوْ اَحْسَنَ اَحَدُكُمْ ظَنَّهُ بِحَجَرٍ لَنَفَعَهُ اللّٰهُ بِهٖ.

لَا اَصْلَ لَهٗ .

**ترجمه** : که یو کس ستا سے نه په کانړی ګمان ښه وکه ، هم الله ده لره په هغے فائده ورکړی۔

دا حدیث بے اصله دے ۔

**تشریح** : دا قسم احادیث مشرکانو چه دکا نړو نه دکیدو یقین لری هغوی جوړ کړی دی ۔تولو محدثینو په دے قسم احادیثو د باطل او موضوعی حکم لګولے دے ۔ قبرونه ،کانړی، جهنډے هیڅ نشی کولے۔ قرآن اوصحیح احادیثو په دے پوره تفصیل کړے دے۔

حافظ ابن تیمیهؒ، حافظ ابن حجرؒ او علامه شوکانیؒ دے حدیث ته منکرت وئیلی دی۔

(المصنوع فی معرفة الحدیث الموضوع ص : ١٤٧).

دا حدیث قبر پرستو او هغه خلقو جوړ کړے دے چه هغوئ دَ توحید دَ عقیدے دشمنان دی۔ او په اسلام کښں دَ کانړو او بوتو عبادت خورول غواړی۔ دَ داسے قِسم مشرکانو سخته مقابله پکار ده۔

٧- مَا مِنْ لَيْلَةٍ اِلَّا يُنَادِىْ مُنَادٍ : اَهْلَ الْقُبُوْرِ مَنْ تَغْبِطُوْنَ؟



فَيَقُوْلُوْنَ اَهْلَ الْمَسَاجِدِ .

لَمْ يُوْجَدْ لَهٗ اَصْلٌ .

**ترجمه** : نشته یوه شپه مګر یو آواز کونکے آواز کوی چه اے قبرونو والو ! تاسو دَ چا په حال پسخیږئ (اوغبطه کوئ) نو هغوی جواب ورکوی چه جومات کښں ناستو خلقو سره ، ترآخره پورے۔

ددے حدیث هیڅ اصل نشته ۔

**تشریح** : دَ قران کریم نه دا ښکاره معلومه ده چه قبرونو والا آوریدل نشی کولے، نوجواب به څه ورکړی، دَ هغوی نهٔ سترګے شته اونهٔ لاسونه، او نهٔ خپے ۔

بعض خلق وائی چه نرچرچنړ او ښځه پیژنی۔ دا سوچه دروغ دی په الله او رسول باندے۔نو مسلمانانو له پکار دی چه دَ داسے غلطو قصونه ځان وساتی۔

٨- اِذَا اَعْيَتْكُمُ الْاُمُوْرُ فَاسْتَعِيْنُوْا بِاَهْلِ الْقُبُوْرِ .

**ترجمه** : کله چه ستاسے څه کار بندشی، نو دَ قبرونو والو نه مدد غواړئ۔

**تشریح** : ددے حدیث هیڅ بنیاد نشته، دا کوم منجور اومشرك دَ ځانه جوړکړے دے۔ دا مُسَلم حقیقت دے چه

(c) ketabton.com: The Digital Library



امداد به صرف اوصرف دَ الله تعالی نه غوښتلے شي۔ اوکه چا دَ بل نه ما فوق الاسباب یعنی چه څه ظاهری سبب نه وی او امداد غواړی، نوقرآن هغهٔ ته په سورة انعام کښې مرتد وائی۔ او په سورة الرعد کښې ورته کافر وائی ۔اوپه سورة احقاف کښې ورته اضل یعنی پوره گمراه وائی۔ هرکله چه قرآن دا اجازت نهٔ ورکوی، نو حدیث څهٔ دَ قرآن نه خلاف وی ؟ دا خبره بالکل غلطه اوبے بنیاده ده۔اوگوره تفسیر روح المعانی بحث د وسیله۔ زهٔ دلته فقط مختصر تنبیه ورکوم۔ تفصیل نکوم ۔

۹– اَبُوْحَنِیْفَةَ سِرَاجُ اُمَّتِیْ : مَوْضُوْعٌ بِاتِّفَاقِ الْمُحَدِّثِیْنَ.

**ترجمه** : امام ابوحنیفهؒ زما دَ اُمت ډیوه او چراغ دے۔ دا حدیث په اتفاق دَ علماؤ سره موضوعی (دَ ځانه جوړ شوے) دے۔

**تشریح**: دا حدیث چرته دَ حدیثو په کتاب کښې نشته۔ مگر په مسند خوارزمی کښې ئے راوړیدے ۔ لیکن دا بعض جاهلانو او متعصبینو مقلدینو دَ خپل امام په مدح کښې جوړکړے دے ۔لکه بعض شوافعو اونورو دَ خپلو امامانو په باره کښې دَ ځانه حدیث جوړکړے دے ۔



دویٔ دَ سُنت دومره اتباع نهٔ کوی، لکه چه دَ یو قول په دروغه سره امام صاحب ته نسبت شوے وی، نو دَ هغے اتباع ډیره کوی۔

لیکن دومره خبره ده چه په حدیث دَ ترمذی کښې کتاب العلم کښې دَ مدینے منورے دَ یو عالم فضیلت راغلے دے۔ اکثر علماء وائی چه هغه امام مالکؒ دے۔

۱۰– اِجْتِمَاعُ الْخَضِرِ وَاِلْیَاسُ عَلَیْهِمَا السَّلَامُ فِیْ کُلِّ مَوْسِمِ الْحَجِّ ، لَایَصِحُّ فِیْهِ شَیْءٌ.

**ترجمه** : خضر او الیاس علیهما السلام په هر کال په موسم دَ حج کښې را جمع کیږی۔

اوپه بل روایت کښې دی چه یوبل لره سرخروی۔

**تشریح** : دَ علمائے محققینو تحقیق دادے چه دَ خضر علیه السلام دَ ژوند په باره کښې یو حدیث هم نشته۔ ابن جوزیؒ په دے کتاب لیکلے دے۔او ابن القیمؒ په (المنارالمنیف) کښې په دے ډیر دلائل دَ قرآن او سنت او اجماع امت نه پیش کړی دی۔

بعض جاهلان وائی چه هغه دَ اخترپه ورځ دَ خلقو سره ملاویږی۔ او نښه ئے داده چه په غټه گوته کښې ئے هډوکے

(c) ketabton.com: The Digital Library



نشته ـ اوبعضِ وائی چه الیاس علیه السلام دَ دریابونو په غاړه گرزی۔ اوخضرعلیه السلام په اوچه گرزی۔او دَ خلقو حاجتونه پوره کوی۔دا خبرے سو چه د روغ او باطلے شیطانی قیصے دی۔ که څوك دا قصے کوی۔نو دلیل دے پرے پیش کړی دَ قرآن او سنت نه۔منکرتو قیصوله هیڅ اعتبار نشته۔

۱۱ – اِذَا صَدَقَتِ الْمَحَبَّةُ سَقَطَتْ شُرُوْطُ الْاَدَبِ.

**ترجمه** : کله چه سرے په محبت الهی کښ کمال ته اورسیږی ، نودَ آدابو لحاظ بیا ختم شی۔

**تشریح** : دا حدیث نهٔ دے، بلکه بعضِ صوفیانو وئیلی دی۔ لیکن اکثر پیران اوس په دے عمل کوی۔یعنی مونځ نکوی، روژه نهٔ ساتی، غټ غټ بریتونه ئے پریخی وی۔کچکول ورسره وی۔زنگه همساورسره وی۔کلے وړے جامے ئے اغوستے وی۔دا خیال لری چه مونځ او عبادت ته څهٔ حاجت نشته، دا خو دَ مریدانو کاردے۔ که تهٔ ورته څه قرآن حدیث پیش کړے، نو هغه وائی چه تاسے مُلایان په دے طریقت اوحقیقت نهٔ پو هیږئ څکه چه طریقت بیل شے دے اوشریعت بیل شے دے۔



دا قِسم عقیده ساتل ډیر جهالت او ناپو هی ده۔ څکه چه علماء دَ انبیاؤ وارثان دی۔او حقیقت او شریعت یوشے دے۔ جنیدبغدادیؒ او نور صوفیاؤ وئیلی دی چه هر هغه حقیقت چه دَ شریعت نه جداوی نو هغه به زندیقت اوکفر وی ـداسے قِسم پیرانو ډیرزیات خلق گمراه کړل۔

عصمنا الله من کید الشیطن و اغوائه.

۱۲ – اُسْجُدُ لِلْقَرمِ فِیْ زَمَانِهٖ.

**ترجمه** : سجده کوه مُرشد ته په خپله زمانه کښ۔

تشریح : دا حدیث بالکل غلط او دَ قرآن خلاف دے۔څکه چه سجده یواځے دَ الله جل شانه حق دے که چا قبرته، بُت ته، کانړی ته، وُنے ته، انسان ته سجده وکړه، هغه مشرك او مرتد دے په اتفاق دَ علماؤ سره۔

په حدیث کښ دی چه یو صحابی عرض وکړو اے دَ الله رسوله !مونږ به تاته سجده کوو! نبی کریم ﷺ جواب ورکړو چه سجده صرف الله ته کیږی ـاوکه بل چاته جائز وے نو ما به دَ خپل امت ښځو ته حکم کړے وے چه خپلو خاوندانو ته سجدے لگوی۔ماته سجده روسته دَ مرگ نه هم نشته ـ(مشکوة)۔

(c) ketabton.com: The Digital Library



لیکن نن صبا دَ اولیاءِ کرامو مزارونو ته ورشئ، هلته هغوئ ته سجدے کیږی، څوك پرواه هم نکوی۔ او نهٔ څوك منع کونکے شته۔ بلکه په خلقو کښ یو رواج دے هغه دا دے چه یو بل ته په خپو پریوزی دا کار هم لویه گناه ده، ځان ترے ساتل پکاردی ځکه چه سر الله درکړے دے الله ته ئے ټیټول پکاردی، الله نه سیوا بل چاته ئے ټیټول حرام دی۔

۱۳ – اُصْفُ النِّیَّةَ وَ نَمْ فِی الْبَرِیَّةِ.

**ترجمه** : نیت صفا لره نوره پرواه مه لره، اگر که په صحراء کښ دے شپه راشی۔

**تشریح** : دا حدیث نهٔ دے بلکه دَ بعضِ جاهلانو وینا ده۔ لکه بعضِ دهریان وائی چه په مونځ او عباداتو څه کیږی ؟ نیت صفا لره۔ زما خپله دَ یو دهری سره داسے مباحثه شوے وه چه ما ورته وئیل مونځ ولے نکوے ؟ وئیلے: زمونږ نیت صفا دے۔لیکن دا جاهل نهٔ پوهیږی چه نیت خو په مونځ او عبادت صفا کیږی۔ او د الله دَ بندگئ پریخودلو سره دَ انسان زړهٔ ، عقل، نیت، دَ مخ نورهر څهٔ ختمیږی۔

۱٤ – اَکْثَرُ اَهْلِ الْجَنَّةِ الْبُلْهُ .



**ترجمه** : اکثر جنتیان به ناپوهه خلق وی۔

**تشریح** : دا مُنکر او ضعیف او باطل حدیث دے۔

بعض جاهلان امیان وائی چه دے ملایانو نوے مسئلے راویستلے دی، دَ خپل پلارنیکه په طریقه تلل پکاردی۔او مونږ دا ساده گان به پنځه سوه کاله مخکښ جنت ته ځو۔دا خبره غلطه ده جنت ته به انسان په ایمان او اعمال صالحه ؤ سره ځی، که مُلا وی او که امی۔ لیکن اکثر په دین عالمان پوهیږی او هغوئ عاملان وی لکه قرآن په دے گواه دے۔بالفرض که دا حدیث صحیح هم شی، نو مراد دَ ناپوهه او غافل نه هغه خلق دی چه دَ دنیا نه ناخبره وی۔لکه سورة روم کښ دی۔

۱۵ – اِنَّ لِلّٰهِ مَلَائِکَةً تَنْقُلُ بِالْاَمْوَاتِ .

قَالَ السَّخَاوِیُّ : لَا اَصْلَ لَهُ.

**ترجمه** : الله تعالی بعض ملائکے دَ مړو په نقل کولو مقرر کړی دی۔

یعنی دَ یو ځائے نه ئے بل ځائے ته اوړی۔

**تشریح** : دا قسم احادیث مشرکینو جوړ کړی دی بے بنیاده اوبے اصله حدیثونه دی۔مقصد ئے دا وی چه زمونږ

(c) ketabton.com: The Digital Library



آلهـه، باباګان، ذمـه واران دی هر ځائے ته رسيدلے شی، او مونږ داسے دَ ډيرو خلقونه آوريدلی دی۔ بعض وائی چه زمونږ دَ کور او تولو لويو ورو حفاظت بابا کوی، دَ هغهٔ را باندے نظر دے۔ حال دا دے چه دا صفات خو دَ الله تعالی دی، چه بے سببه رارسيدلے شی، او آوری وينی حفاظت صرف يو الله کوی۔

قرآن کريم فرمائی، چه ستاسو دَ شپے او دَ ورځے حفاظت څوك کوی کـه چرتـه الله ئے اونکړی، هيڅوك نشته۔

دا خبره هم غلطه ده چه مړے هغه سړی تـه تَکره ورکوی څوك چه دَ هغوئ نه وُنے بوتی ماتوی۔ او بعض وائی چه زمونږ نيکهٔ شناختے خلقو پسے راګوزارے کړی دی۔ دا تول بکواس او بے بنياده خبرے دی۔ او مړی په خپل ځائے پراتهٔ دی۔ هيڅرته نه ځی۔ هاؤ ! په دے خبرو سره دَ ژوندو نه عقل ځی !

۱٦ – اَلتَّهُنِيَةُ بِالشُّهُوْرِ وَ الْاَعْيَادِ مِمَّا اعْتَادَهُ النَّاسُ فِيْ بَعْضِ الْبَلادِ لَمْ يَرِدُ فِيْهِ شَئٌ صَرِيْحٌ فِيْ هٰذَا الْمَعْنٰى .

(داقول دملاعلی قاری دے)۔



**ترجمه** : دَ اختر په ورځ بعضو خلقو رواج ګرزولے دے چه مبارکی ورکوی، دا په حديث کښ نشته۔

**تشريح** : دا خبره ثابته ده چه مبارکی زيرے ورکول جائز دی۔ ليکن دَ اختر په ورځ دا رواج دے، دے کښ حديث نشته، نو بدعت شو۔ نو ځان ترے ساتل ضروری دی۔ ځکه چه کوم مستحب کار باندے التزام کول بدعت دے هغه ناروا دے۔

البته دَ صحابه کرامؓ نه ثابت دی چه کله به هغوئ دَ اختر په ورځ دَ يو بل سره ملاويدل نو دا الفاظ به ئے وئيل :

تقبل الله منا ومنکم

(الله دے زمونږ او ستاسو مونځونه روژے قبولے کړی)۔

نو يو بل ته دغه الفاظ وئيل جائز دی۔

۱۷ – رُوِیَ اَنَّ عَلِيًّا احْتَمَلَ بَابَ خَيْبَرَ وَحْدَهُ ثُمَّ اَرَادَ سَبْعَةٌ فَلَمْ يَقْلِبُوْهُ . بَاطِلٌ طُرُقُهُ كُلُّهَا وَاهِيَةٌ .

**ترجمه** : روايت دے چه علیؓ کله خيبر غزاته لاړو، نو هغهٔ يوه لويه دروازه يوازے اوچته کړے وه چه اوو کسانو دَ هغے دَ اوچتولو طاقت نهٔ لرلو۔

**تشريح** : علماء وائی چه شيعه ګانو دَ علی، حَسن ،

(c) ketabton.com: The Digital Library



حُسین او فاطمے رضی اللہ عنہم پہ بارہ کښې درے لاکھہ احادیث دَ ځانہ جوړکړی دی، چہ ھغہ علماؤ راویستلی دی۔ او چنړ کړی ئے دی، دَ دین دشمنان ډیردی، شیعہ گان او یھودیان دَ دین لوئے دشمنان دی، دَ دوئ مقابلہ پہ ھر وخت کښې ضروری دہ۔ دَ دوئ ډیرے بدے عقیدے دی چہ دَ ھغے دَ تفصیل ځائے دا نۀ دے۔ دارنگ دا حدیث ئے ھم دَ ځانہ جوړکړے دے۔

۱۸ – رُوِیَ اَنَّ الشَّمْسَ رُدَّتْ لِعَلِیٍّ رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ
قَالَ اَحْمَدُ لَا اَصْلَ لَہٗ.

**ترجمہ** : روایت دے چہ نمر علیؓ تہ اودریدلے وؤ ځکہ چہ ھغہ پہ حاجت دَ رسول اللہ ﷺ کښې وؤ۔

**تشریح** : دا حدیث باطل او بے بنیادہ دے۔ لکہ امام احمدؒ ویلی دی، ځکہ چہ پہ صحیح روایت کښې دادی چہ نمر یوشع علیہ السلام تہ اودریدلے وؤ پہ حکم دَ اللہ تعالی، او ھغۀ دعا کړے وہ کلہ چہ ھغہ جھاد لہ تلے وؤ۔ تفصیل ئے پہ بخاری شریف کښې دے۔

دا قسم روایات شیعہ گانو جوړکړی دی۔ مگر یو روایت پہ تفسیرونو کښې شتہ دَ سلیمان علیہ السلام پہ بارہ کښې



ھم، چہ ھغۀ تہ نمر اودریدلے وؤ۔ لیکن دا ټولے معجزے دی۔ او اللہ ئے پہ خپل اختیار کوی دَ پیغمبر پہ ھغے کښې ھیڅ قدرت نۀ وی۔

۱۹ – قَالَ ﷺ : اِنَّ الْمَیِّتَ یَرَی النَّاسَ فِیْ بَیْتِہٖ سَبْعَةَ اَیَّامٍ :
قَالَ اَحْمَدُ لَا اَصْلَ لَہٗ، قَالَ النَّوَوِیُّ فِیْ مَتْنِہٖ کَلَامٌ مُظْلِمٌ وَ وَاضِعُہٗ مُجْرِمٌ قَبَّحَ اللّٰہُ مَنْ وَضَعَہٗ وَلَا بَرَّدَ مَضْجَعَہٗ.

**ترجمہ** : نبی ﷺ فرمائی چہ مړے تر اوؤ ورځو پورے خلق پہ کور کښې وینی۔

**تشریح** : امام احمدؒ فرمائی : دا حدیث بے اصلہ دے امام نوویؒ خبرے کوی چہ د دے حدیث عبارت اول دَ تیارے نہ ډك دے، او چا چہ جوړکړے دے ھغہ مجرم دے، اللہ دے ئے ھلاك کړی۔ او اللہ دے پہ قبر کښې ددۀ اړخ نۀ لگوی۔ دا ھم دَ ھغہ کسانو د روغ دی چہ څوك پہ قبرونو ایمان لری، او دَ ھغے نہ دَ کیدو یقین لری بلکہ دائے دے لہ جوړکړے دے چہ خلقو تہ دا اوښائی چہ مړے وینی، خیرات وریسے کوئ چہ زمونږ دَ تنور (خیتے) ھم څۀ کار کیږی، دا مخکښې تیرہ شوہ چہ چانہ روح لاړشی، ھغہ نۀ آوریدل کولے شی، او نہ لیدل کولے شی، پاتے لا کور کښې خلق لیدل۔

(c) ketabton.com: The Digital Library



بعضِ مابنامی والا وائی چه دَ مابنامی په وخت ئے ورکړی، ځکه چه مړی راځی او په بلئ ناست وی، نو چه زر زر واپس شی۔ دا ټول د روغ دی او سو چه د روغ دی۔

زهٔ وایم : څوك چه دا قسم عقیدے په خلقو کښ خوروی هغه دے الله په دنیا او آخرت کښ په خیټه مورنکړی، آمین۔

۲۰ – قال علیه السلام :

رَحِمَ اللهُ مَنْ زَارَنِیْ وَزِمَامُ نَاقَتِهِ بِیَدِهِ.

**ترجمه** : الله دے په هغه چا رحم اوکړی چه زما زیارت له راشی، او دَ اوښے واګے ئے په لاس کښ نیولے وی۔

**تشریح** : دا منلے شوے خبره ده چه زیارة القبور له په سنت طریقه تلل جائز او ثواب دے۔ لکه څنګه چه نبی ﷺ فرمائیلی دی۔ او هغه سنت طریقه داده، چه ور به شی، اویه دریږی، او دَ زیارة القبور مسنونه دعا به ووایی۔ او آخرت او ¨ به رایاد کړی، مړوته به دعا اوکړی۔

دانهٔ چه ګټے جاروګانے په ځان ووهی، یاغلاف ته غوټے واچوی، یاجرندے یاغلافونه واچوی په قبر۔یا هغهٔ ته وائی چه تا له راغلے یم، ماله څوئ راکړه، یامال راکړه یانور څه۔



پاتے شو خاص قبرونوله تلل۔ لکه پیربابا ، کاکا صاحب، سیدعلی هجویری۔نو هغه ناروا دی په حدیث دَ (لاتشد الرحال) سره او دَ نبی کریم ﷺ قبرله خصوصا تلل، داهم چرته په صحیح حدیث کښ نشته۔ یا خو موضوعی دے یا انتهائی ضعیف دے اوکه چا یو حدیث صحیح پیش کړو۔نو مونږ عناد اوضد نهٔ کوو۔بلکه دَ صحابه کرامو عمل ته وګورئ۔ هغوئ شام، بصره،کوفه، مصروغیره کښ آباد وو، یو هم دَ نبی ﷺ قبرله نهٔ دے راغلے۔ خصوصًا کچرته څوك مدینے منورے ته هسے لاړش، نو هغهٔ له پکاردی چه دَ رسول الله ﷺ زیارت اوکړی ۔ دا یوه دَ سعادت خبره ده۔

بعضِ وائی چه دا حاجیان ولے ځی۔ زهٔ وایم چه دَ حاجیانو عمل دلیل نهٔ دے ۔اوکوم خلق چه پوهه دی هغوی مسجد الرسول ﷺ له ځی ۔ځکه چه هلته یومونځ په یوزر (۱۰۰۰) دے۔

۲۱ – حدیث قدسی : لَوْلَاكَ لَوْلَاكَ لَمَا خَلَقْتُ الْاَفْلَاكَ.

**ترجمه** : الله نبی ﷺ ته فرمائی : که چرے تهٔ نه وے نوما به دا دنیا نهٔ وے پیداکړے۔

(c) ketabton.com: The Digital Library



**تشریح** : بے اصله اوبے بنیاده حدیث جوړ کړے شوے
دے۔ مغانیؒ یو عالم دے وائی، چه دا موضوعی دے۔ بلکه
دا حدیث داسے معلومیږی چه چرته بریلیانو (دَ توحید او
صحیح عقیدے دشمنانو) جوړکړے دے چه دنیا الله دَ خپل
توحید اوچه خلق دَ هغه بندګی اوکړی دے له پیداکړے
ده۔ لکه قرآن په سورۃ الذاریات کښې هم داسے فرمایلی
دی۔ مونږ دامنو چه دَ رسول الله ﷺ لوئے شان، عزت او
وقاردے لیکن هر خاوند دَ حق ته خپل حق ورکول پکار
دی۔ نوتهوله خبره ددے نه خرابیږی چه انسان مستحق دَ
حق اونهٔ پیژنی۔ نو دنیا له الله تعالیٰ دَ خپل عبادت دپاره
پیدا کړے ده۔

۲۲ – رُوِیَ اَنَّ اَبَا مَحْذُوْرَةَ اَنْشَدَ الْبَیْتَیْنِ بِحَضْرَتِهِ عَلَیْهِ
السَّلَامُ وَالصَّحَابَةُ جُلُوْسٌ فَتَوَاجَدَ هُوَ وَ اَصْحَابُ الصُّفَّةِ.

**ترجمه** : روایت دے چه ابومحذورهؓ د نبی ﷺ او
صحابو مخکښې څه شعرونه دَ محبت الهی اولوستل۔ نو
نبی ﷺ او دَ هغهٔ صحابه په جذبه کښې راغلل، تردے چه
دَ نبی ﷺ څادر مبارك دَ اوګونه پریوتو۔ او اصحاب صُفه
ځان له تقسیم کړو۔



**تشریح** : دا حدیث په اتفاق دَ علماؤ سره باطل دے۔
موضوعی دے، دے قسم غلطو احادیثو نه دے پیرانو
استدلال کړے دے۔ چه د جُمعے په شپه لاؤډ سپیکرځان ته
ولګوی او په زوره زوره ذکر شروع کړی، تردے چه نشه شی
دَ ډیرشور دَ وجے نه۔ خلق وائی چه په وجد کښې راغے، او
دے رسیدلے دے حال دا دے چه دا کار سراسرګناه او
لیونتوب دے۔ ځکه چه مسجدکښې شور یوه ګناه ده۔ او په
زوره ذکر کول هم منع دی۔

ملا علی قاریؒ په مرقاة کښې فرمائی :

اَلْجَهْرُ وَلَوْ بِالذِّکْرِ حَرَامٌ تَحْتَ حَدِیْثِ وَرَفَعَتِ الْاَصْوَاتُ فِی
الْمَسَاجِدِ.

(په جومات کښې په زوره ذکر کول ناجائز دی)۔

او خلقو ته خپل عبادت ښکاره کول ریاده۔ الله تعالی
پټ عبادت کونکی خوښوی۔

بله خبره داده چه الله دَ پیغمبر او دَ صحابهٔ صفت په
قرآن کښې په سورة زمر کښې داسے کړے دے :

﴿تَقْشَعِرُّ مِنْهُ جُلُوْدُ الَّذِیْنَ یَخْشَوْنَ رَبَّهُمْ ثُمَّ تَلِیْنُ جُلُوْدُهُمْ
وَقُلُوْبُهُمْ اِلٰی ذِکْرِ اللهِ﴾ الاٰیة.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(دَ قرآن کریم دَ آوریدو په وخت دَ هغوئ غونے زیږ
کیږی او دَ الله ذکر ته ئے زړونه ئے نرمیږی)۔

داسے ئے نۀ دی وئیلی چه ځان غورزوی، بلکه دا پیران دَ کو هی په غاړه یا دَ چهت په سر په ځان وجد او جذ به نه راولی۔

۲۳- صَدَقَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ يَقُوْلُهُ النَّاسُ عِنْدَ قَوْلِ الْمُؤَذِّنِ اَلصَّلٰوةُ خَيْرٌ مِنَ النَّوْمِ وَكَذَا صَدَقْتَ وَ بَرَرْتَ وَ بِالْحَقِّ نَطَقْتَ .

**ترجمه** : اکثر خلق دَ سحر دَ اذان په وخت کښ دا وائی چه (صَدَقَ رَسُوْلُ اللهِ يا صَدَقْتَ وَبَرَرْتَ وَبِالْحَقِّ نَطَقْتَ)۔

**تشریح** : ددے دعا په احادیثو کښ څه اصل نشته۔

او دَ ابن السنی په روایت کښ چه راغلی نو دغه روایت مجهول دے۔ (معارف السنن)۔

مُلاعلی قاریؒ فرمائی : ولا یعرف من قاله
(ددے قائل نه دے معلوم)۔

۲۴- اِشْتَهَرَ عِنْدَ الْعَامَّةِ فِيْ صَلٰوةِ الْجَنَازَةِ صَلٰوةٌ لَيْسَ فِيْ كُتُبِ الْحَدِيْثِ سِوَى الْبَاسَوْلِيِّ .

**ترجمه** : اکثر خلق دَ جنازے مانځه کښ داسے درود وائی۔



اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَعَلٰى آلِ مُحَمَّدٍ كَمَا صَلَّيْتَ وَ سَلَّمْتَ وَ رَحِمْتَ وَ تَرَحَّمْتَ عَلٰى اِبْرَاهِيْمَ ...... تر آخره پورے)۔

**تشریح** : دا دَ حدیثو په یو کتاب کښ هم نشته۔ بلکه هغه درود وئیل پکار ردی، کوم چه په مانځه کښ وئیلے کیږی۔ دَ نبی ﷺ دَ ذکر په الفاظو کښ زیاتے، کمے کول ناروا دی۔ دارنګه په (سبحانك اللهم وبحمدك) کښ [وجل ثناؤك ] نشته۔ دا تهکی دَ ځان نه چا جوړکړی دی۔ بلکه دَ جنازے په مانځه کښ [سبحانك اللهم نه تر ولا اله غیرك پورے وئیل] هم نشته۔

بلکه سورتِ فاتحه به لولی۔

۲۵- صَلٰوةٌ بِعِمَامَةٍ تَعْدِلُ خَمْسًا وَعِشْرِيْنَ صَلٰوةً بِغَيْرِ عِمَامَةٍ، وَ جُمُعَةٌ بِعِمَامَةٍ تَعْدِلُ سَبْعِيْنَ جُمُعَةً بِغَيْرِ عِمَامَةٍ، وَالصَّلٰوةُ فِى الْعِمَامَةِ بِعَشْرَةِ آلاف صَلٰوةٍ.

**ترجمه** : یو مونځ په پټکی سره په پنځه ویشت درجے زیات دے۔او جمعه دَ پټکی سره په او یا جمعو باندے زیات ثواب لری او دَ پټکی سره یو مونځ کول الله پرے لس زره نیکئ ورکوی۔

**تشریح** : پټکے په سرول مستحب کاردے۔علماء

(c) ketabton.com: The Digital Library



ليكى چه دَ هغے د ګزونو په باره كښ څه حديث نشته -ليكن دا قاعده ده دَ علماؤ، چه دَ مستحب نه څوك فرض جوړكړى- نو دَ هغے پريخودل واجب دى-نن صبا دا رواج دے چه په امام باندے پټكى په سرول ضرورى ګنړى- اونور مقتديان ئے هيڅ پرواه نكوى- او امام صاحب ئے هم صرف مانځه له په سروى، دا طريقه بدعت دے- پټكے تړلوله مستحب دے او په عامو اوقاتو كښ نه صرف دَ مانځه دپاره -

كه څوك دا حديث پيش كوى نو دا باطل دے -

علامه نووىؒ وائى دَ مستحب نه فرض جوړول ښۀ نه دى -لكه بعضِ ناپوهان دَ نوكونو پريكولو په باره كښ وائى داسے سنت دى -اوبل وائى داسے سنت دى- حالانكه دَ نوكونو پريكولو په باره كښ خاصه طريقه نۀ ده راغلے-

٢٦- مَنْ قَصَّ اَظْفَارَهُ مُخَالِفًا لَمْ يَرَ فِيْ عَيْنَيْهِ رَمَدًا.

**ترجمه** : څوك چه نو كان ردوبدل پريكړى، نوسترګے به ئے نه خوږيږى-

**تشريح** : دا حديث ثابت نۀ دے- بلكه علماء وائى چه دَ نوكونو په پريكولو كښ يو حديث هم نشته-يعنى چه



په هغے كښ ئے خاصه طريقه خودلے وى- ليكن دَ عامو احاديثونه دا معلومه ده چه دَ نوكانو په پريكولو كښ دَ ښى طرف نه شروع پكارده-

٢٧- قال ﷺ: كُلُّ بِدْعَةٍ ضَلاَلَةٌ اِلَّا بِدْعَةٌ فِيْ عِبَادَةٍ.

**ترجمه** : هر بدعت ګمراهى ده مګر كه په عبادت كښ څوك بدعت كوى نو خير دے-

**تشريح** : دا حديث هغه چا دَ ځانه جوړكړے دے چه دَ دين په هيڅ شعبه هغه نه پوهيږى-

قَالَ مُلَا عَلِيُّ الْقَارِيُّ : فِيْ سَنَدِهٖ كَذَّابٌ مُتَّهَمٌ.

(ددے حديث په سند كښ ډير دروغژن او تهمتيان راويان دى)-

نبى ﷺ خو په عباداتو كښ دَ بدعت كولو نه منع فرمايلے ده- نو بيا هغه خپله خبره ولے ردكړه ؟ بلكه دَ دين دشمنان چه هغوئ دَ نبى ﷺ سره ځان يو شان ګنړى- هغوئ دَ هغۀ په خبره كښ دا تعارض او تناقض پيدا كوى-

دا قاعده نبى ﷺ فرمايلے ده چه :

كُلُّ بِدْعَةٍ ضَلاَلَةٌ.

(هر بدعت ګمراهى ده)- (مسلم)-

(c) ketabton.com: The Digital Library



دے کښں هیڅ استثناء نشته ۔

(دا موجبه کلیه ده او بدعت ئے نکره راوړے ده)۔

څوك چه بدعت پنځه قسمه کوی، هغوئ دَ مصالحو مرسلو او دَ بدعت فرق نه شی کولے۔ دۀ له پکار دی چه دَ امام شاطبیؒ (الاعتصام او الموافقات) اووګوری۔ اوکه نۀ وی نو ضیاء النور دے اوګوری۔

٢٨ – مَنْ سَمّٰى وَلَدَهٗ مُحَمَّدًا اَوْ اَحْمَدَ كَانَ هُوَ وَاَبُوْهُ فِي الْجَنَّةِ وَفِيْ رِوَايَةٍ لَا يَدْخُلُ النَّارَ.

**ترجمه** : نبی ﷺ وائی چه دَ چا ماشوم پیدا شو، او نوم ئے ورله محمد یا احمد کیخودۀ، نو هغه پلار او ځوئ به جنت ته ځی۔ او په بل روایت کښں دی چه دَ اور نه به بچ وی۔

**تشریح** : مُلا علی قاریؒ دَ ابن قیمؒ په حواله نقل کوی چه دا ټول دروغ دی۔

داسے نور احادیث هم شته، لیکن ټول دروغ دی۔ البته دومره ده چه هسے ترغیب راغلے دے۔ او محمد او احمد دَ انبیاؤ نومونه کیخودل پکاردی۔ او بنۀ نومونه ایخودل پکاردی چه شرك پکښں نه وی ۔



بعضِ خلق عبدالنبی، عبدالرسول، عبدالعلی، داتا، پیربخش، عمر بخش، ګنج بخش او داسے نور غیر شرعی نومونه ګدی۔ حال دادے چه دا ډیره ګناه لری۔

نبی ﷺ به چه دَ کوم سړی نوم غلط واوریدۀ نو بدلولو به ئے۔ لیکن دَ نوم په سبب انسان جنت ته نشی تلے۔ جنت دَ الله په توفیق سره په ایمان او عمل صالح سره ملاویږی۔

٢٩ – اَحَادِيْثُ الْاَبْدَالِ وَالنُّجَبَاءِ وَالنُّقَبَاءِ وَالْاَقْطَابِ بَاطِلَةٌ اِلَّا اَنَّهٗ وَرَدَ حَدِيْثٌ ضَعِيْفٌ فِي الْاَبْدَالِ اَنَّهُمْ بِالشَّامِ كُلَّمَا مَاتَ رَجُلٌ مِنْهُمْ اَبْدَلَ اللّٰهُ مَكَانَهٗ آخَرَ.

**ترجمه** : دَ قطبانو، غوثانو، نجیبانو او رجال الغیب په باره کښں چه حدیثونه راغلی هغه ټول دروغ دی۔ مګر یو حدیث دَ ابدالو په باره کښں راغلے چه هغه هم ضعیف او منقطع دے۔ لکه مسند احمد اوګورئ ۔

**تشریح** : ددے نه بعضِ خلق امداد غواړی ۔ او وائی چه حدیث کښں راغلی دی۔ نو علامه ابن قیمؒ په (المنار المنیف) کښں دا حدیثونه موضوعی ګرزولی دی۔ اوملا علی قاریؒ هم دَ هغۀ تبعیت کړے دے۔

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳۰ – اِذَا مَرَّ الْعَالِمُ اَوِ الْمُتَعَلِّمُ عَلٰی قَرْیَةٍ فَاِنَّ اللّٰهَ تَعَالٰی یَرْفَعُ الْعَذَابَ عَنْ مَقْبَرَةِ تِلْكَ الْقَرْیَةِ اَرْبَعِیْنَ یَوْمًا.

قَالَ السُّیُوْطِیُّ لَا اَصْلَ لَهٗ.

**ترجمه** : کله چه عالم یا طالب العلم په یو کلي ور تیرشي، نو الله تعالی دَ دغه کلي دَ مقبرے نه څلویښت ورځے عذاب پورته کوي۔

**تشریح** : دا بے بنیاده حدیث دے۔ دا خبره صحیح ده چه دَ علم اوعلماؤ اوطلباؤ ډیر فضیلت دے لیکن دَ ځان نه ورله حدیثونه جوړول هم نهٔ دي پکار بلکه صحیح حدیثونه ډیر دي۔ زهٔ دَ بعضِ تبلیغ والونه اورم، چه گشت په یو کلي اوشي، نو الله تعالی څلویښت ورځے رحمتونه راليږي، اوعذابونه لرے کوي۔ شاید چه دا ددے موضوعي حدیث نه اخستے شوے خبره وي۔ نو دا خبره بے بنیاده او په الله دروغ جوړول دي۔ او مُرَوّجه تبلیغ والا ډیر داسے حدیثونه بیانوي کوم چه خالص دروغ او ډکوسلے دي۔ په دوئ کښ بے تحقیقه، بے بنیاده خبرے ډیرے زیاتے دي۔ بلکه موضوعات او منکرت حدیثونه هم دوئ راتازه کړل۔



۳۱ – تَفَکُّرُ سَاعَةٍ خَیْرٌ مِنْ عِبَادَةِ سِتِّیْنَ سَنَةً.

**ترجمه** : یو ساعت فکر کول دَ شپیتو کالو دَ عبادت نه بهتر دي۔

**تشریح** : دا قول دَ صوفیانو دے۔ او حدیث نهٔ دے۔ د الله په نعمتونو اوقدرتونو کښ فکر کول ډیر ښهٔ شے دے۔ الله هم دے طرف ته ترغیب ورکړے۔ لیکن بعضِ خلق داسے وائي چه دَ دین په فکر کښ ناسته دَ شپیتو کالو دَ عبادت نه بهتر دي۔

نو اول خو دا حدیث ثابت نهٔ دے۔ اوکه ثابت شي نو بیائے دا معنی نهٔ ده۔

۳۲. قَالَ ﷺ: تَرْكُ الْعَشَاءِ مَهْرَمَةٌ.

**ترجمه** : دَ ماښام روټئ نهٔ خوړل سړے بوډا کوي۔

**تشریح** : دا حدیث ثابت نهٔ دے۔ ترمذي ددے پشان یو بل حدیث راوړے۔ لیکن هغه ورته منکر وئیلي دي۔ نو داسے تشدد او تعمق نهٔ دي کول پکار۔ چه خامخا دَ ماښام روټئ به خوري، اوکه وے نهٔ خوړله، نو گنے دَ سُنت نه به خلاف راشي۔ لیکن طبیبانو د اخبره کړے ده چه څه نه څه خوړل او مازیگر وختي خوړل صحت له ښهٔ دي۔

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳۳- حَدِيْثُ تَسْلِيْمِ الْغَزَالَةِ اشْتَهَرَ عَلَى الْاَلْسِنَةِ وَفِي الْمَدَائِحِ النَّبَوِيَّةِ قَال ابْنُ كَثِيْرٍ وَلَيْسَ لَهُ اَصْلٌ وَمَنْ نَسَبَهُ اِلَى النَّبِيِّ ﷺ فَقَدْ كَذَبَ.

**ترجمه** : خلق وائی چه نبی ﷺ یوه هوسئ ولیده چه ښکاری نیولے وه ـ هغے په نبی ﷺ سلام واچول، او دا ئے اووئیل چه زما بچی وږی دی، ما پریده، زهٔ به بیا راشم، تر آخره پورے۔

**تشریح** : دا حدیث بے اصله دے او خوك ئے چه رسول الله ﷺ ته نسبت کوی هغه دروغژن دے۔

دَ نبی ﷺ معجزے دَ زرو نه هم ډیرے دی لکه علامه ابن تیمیهؒ په (الفرقان) کښ ورته اشاره کړے ده۔

نو واعظان هغه ولے نه ذکر کوی چه دا بے بنیاده خبرے په خلقو کښ خوروی۔

۳۴- سِيْنُ بِلَالٍ عِنْدَ اللهِ شِيْنٌ.

قَالَ ابْنُ كَثِيْرٍ لَيْسَ لَهُ اَصْلٌ ـ

**ترجمه** : نبی ﷺ فرمائی : دَ بلالؓ سین داسے دے لکه چه دے شین وائی ـ

**تشریح** : یعنی خلق وائی چه بلالؓ (اشهد) کښ



شین نشو وئیلے ـ نو (اسهد) به ئے ویلو په سین سره ـ نو صحابهٔ منع کړو چه اذان مکوه ـ بیا جبریل علیه السلام راغے، اووے فرمایل چه نن بره (پاس) اذان نه دے اوریدلے شوے ـ دا ولے، نو دا عرض اوشو، نو هغه وفرمایل چه دا دَ بلال سین په شان دَ شین دے ـ او اذان به هم دے کوی ـ

دا هسے بے اصله خبره ده ځکه چه بلالؓ خو یوائے مؤذن نهٔ وو ـ بلکه دَ رسول الله ﷺ مؤذنین اووه کسان وو ـ

۳۵- حَدِيْثُ : رُجُوْعِ بِلَالٍ وَ ارْتِجَاجِ الْمَدِيْنَةِ وَ بُكَاءِ النَّاسِ.

**ترجمه** : چه بلالؓ دَ نبی ﷺ دَ وفات نه روسته مدینے منورے ته راغے او اذان ئے وکړو ـ او مدنیه وخوزیدله او خلق ټول په ژړا شو ـ

**تشریح** : دا حدیث باطل دے ـ ثابت نهٔ دے ـ

۳۶- اَلْاَرْضُوْنَ سَبْعٌ فِيْ كُلِّ اَرْضٍ نَبِيٌّ كَنَبِيِّكُمْ يُرْوىٰ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ.

**ترجمه** : اووه زمکے دی او په هره زمکه کښ پیغمبر

(c) ketabton.com: The Digital Library



دے لکه بهر دنیا کښې چه څنګه نبي وي۔

**تشریح** : دا حدیث نبي ﷺ ته دے وئیلے او خلق ئ
ابن عباسؓ ته نسبت کوي۔ لیکن دا هم د روغ دی۔ بلک
صحیح خبره داده چه زمکے اووه دی لیکن دَ یو بل سر
نښتے دی لکه دَ پیاز دَ پوستکی پشان۔

(ترمذی کتاب التفسیر سورة الطلاق).

دا حدیث قصه ګو ملایان ډیر اوروی۔

۳۷- اَنَا مِنَ اللهِ وَالْمُؤْمِنُوْنَ مِنِّیْ.

قَالَ الْعَسْقَلَانِیُّ : اِنَّهٗ کِذْبٌ مُخْتَلَقٌ .

**ترجمه** : زهٔ دَ الله نه یم او مؤمنان زما نه دی۔

**تشریح** : دا خبره خلق نبي ﷺ ته منسوب کوي حال
دادے چه دا څهٔ مهمل کلام او شرکی خبره ده۔ لکه خلق
وائی دا دنیا ددهٔ دَمخ نه پیدا ده۔ دا غلطه خبره ده ۔ علما
وائی دا دروغ دی۔ دا دَ بریلیانو جوړ کړے حدیث دے۔

۳۸- اِنَّ الْوَرْدَ خُلِقَ مِنْ عَرَقِ النَّبِیِّ اَوْ مِنْ عَرَقِ الْبُرَاقِ.

**ترجمه** : ګلاب دَ نبي ﷺ دَ خولے مبارکے یا دَ هغهٔ دَ
بُراق دَ خولو نه پیداشوے دے۔دا چتې خبره ده دروغ دی۔

**تشریح** : ددے نه دا معلومیږی چه ګلاب دَ نبي ﷺ



دَ زمانے نه مخکښې نه وؤ۔ او حال دا دے چه قرآن کښې الله
ورته اشاره کړے ده، په سورة رحمٰن کښې ﴿ فکانت وردة
کالدهان ﴾ نو معلومه شوه چه ګلاب مخکښې زمانه کښې
هم وؤ۔ نو بیا څنګه دَ نبي ﷺ دَ خولے نه پیدا شو۔ دَ
ګلاب په باره کښې ټول احادیث موضوعی دی۔

۳۹- حُبُّ الْوَطَنِ مِنَ الْاِیْمَانِ :

**ترجمه** : دَ وطن سره مینه کول دَ ایمان حصه ده۔

**تشریح** : دا دَ ځان نه جوړ شوے حدیث دے۔ دا غلطه
خبره ده ځکه چه کافران هم دَ خپل وطن سره مینه کوي
۔بلکه ایمان والو لره دَ الله دَ دین سره مینه پکار ده، او خپل
ملك او وطن پریخودل پکاردی۔ کما فعله الصحابة۔ د
اجرته دَ فاسدو خلقو حدیث دے۔

٤٠- اَلشَّیْخُ فِیْ قَوْمِهٖ کَالنَّبِیِّ فِیْ اُمَّتِهٖ : مَوْضُوْعٌ .

**ترجمه** : پیر په یو قوم کښې داسے دے لکه پیغمبر په
خپل امت کښې۔

**تشریح** : نن صبا اکثر پیران ټګان او ګنړ کپان دی، دَ
خلقو عقائد ئے خراب کړل، خلق ئے دَ صحیح دین نه
محرومه ساتل دی۔ نو دوئ څنګه دَ پیغمبر سره مشابه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړے شی؟ دا تشبیه صحیح نۀ ده ـ دَ سوء ادب نه خالی نه ده ـ اوکه څوك اووائی چه بل روایت کښې راغلی دی۔ چه:

٤١ – عُلَمَاءُ اُمَّتِیْ کَاَنْبِیَاءِ بَنِیْ اِسْرَائِیْلَ .

اِنَّهٗ مَوْضُوْعٌ بَلِ الصَّحِیْحُ الْعُلَمَاءُ وَرَثَةُ الْاَنْبِیَاءِ.

**ترجمه** : زما دَ امت علماء دَ بنی اسرائیلو دَ پیغمبرانو پشان دی۔

**تشریح** : دا حدیث هم موضوعی دے ـ

بلکه صحیح داسے ده چه علماء دَ انبیاؤ وارثان دی ـ دَ پیغمبر دومره سپکاوے کول گناه ده، چه مُلیان دَ هغه سره برابروے ـ

٤٢ – مَنْ بَشَّرَنِیْ بِخُرُوْجِ صَفَرَ بَشَّرْتُهٗ بِالْجَنَّةِ .

**ترجمه** : نبی ﷺ وائی ، چاچه ماله زیرے دَ صفرے د میاشتے دَ وتلو راکړو، نو زۀ به ورله دَ جنت زیرے ورکړم ـ

**تشریح** : دا حدیث بے بنیاده دے، او مشرکانو جاهلانو دَ ځانه جوړکړے دے، دوئ دَ صفر دَ میاشتے نه ویریږی چه دے کښې دیوان راکوزیږی ماښام بهرته مه وزئ، اوکله چه صفره اووځی نو کتھوئ وریسے ماته کړی۔ اوکور وریسے پاك جاروکړی وغیره نور رسمونه، دا دَ عربو جاهلانو کار



هم وؤ۔ او هغوی به دا میاشت سپیره گنړله ـ نوشریعت ورله نوم صفرالمظفر، سره کیخوده یعنی دَ کامیابئ میاشت، او دَ سپیرۀ والی میاشت نه ده، بلکه سپیرۀ والے دَ انسان دَ عمل په وجه راځی نۀ دَ میاشتو ورځو په وجه۔

٤٣ – یَوْمُ الْاَرْبِعَاءِ یَوْمُ نَحْسٍ مُسْتَمِرٍّ.

**ترجمه** : دَ چارشنبے ورځ سپیره ده ـ دا حدیث نهایت ضعیف دے۔

**تشریح** : خلق اکثر ورځوته دَ سپیرۀ والی او نیك بختئ نسبتونه کوی۔ حال دادے چه دا خو دَ الله په اختیار کښې دی ـ بعضِ ښځے وائی چه دَ جُمعے په ورځ جامے وینځل یا سر وینځل ښۀ نۀ دی، او بعضِ پکښې لا داهم وائی چه دَ جُمعے په ورځ غسل نۀ وزی۔ دا دَ شیطان لویه وسوسه ده۔ ځکه چه نبی ﷺ په غسل باندے حکم کړے دے دَ جُمعے په ورځ ـ او دوئ وائی چه غسل نۀ وزی ـ دا دَ صحیح صریح حدیث مقابله ده، اعاذنا الله۔ نو بدفالی نیول لو یه گناه ده ـ

٤٤ – یَوُمُ الْقَوْمِ اَحْسَنُهُمْ وَجْهًا.

**ترجمه** : امامت به هغه څوك کوی چه مخ ښائسته

(c) ketabton.com: The Digital Library



لري۔

**تشریح** : دا موضوعي روایت دے ۔ بلکه صحیح حدیث کښې دَ علم او قرائت او هجرت او مشروالي او دَ کور والا لحاظ راغلے دے ۔ او بعضِ خلق تعمّق کوي دد حدیث نه روستو نورے خبرے کوي وائي چه څوك ښائسته مخ والا وي یا دَ دوه ښځو والا وي وغیره، نو هغه دَ امامت حقدار وي ۔ دا ټولے بے فائدے او دَ ځانه جوړ شوے مسئلے دي۔ چه دَ حنفي فقهاؤ په کتابونو کښې ذکر شوي دي۔ په دے باندے هیڅ دلیل نشته، دا قِسم خرافات او بے بنیاده مسئلے په حنفي فقه کښې ډیر زیات دي۔

٤٥ – اَلنَّظَرُ اِلَی الْوَجْهِ الْجَمِیْلِ عِبَادَةٌ.

**ترجمه** : ښائسته مخ ته کتل عبادت دے۔

هٰذَا کِذْبٌ بَاطِلٌ .

**تشریح** : دا دروغ او باطله خبره ده۔ فاسقان خلق خو هسے هم دَ پردو زنانهؤ نه مخ نۀ اړوي، او که دا حدیث هم واوري نو صوفیان به هم په لعنت شي، لکه بعضِ پیران په دے لعنت اختۀ شویدي، لکه علامه ابن الجوزيؒ په تلبیس ابلیس کښې نقل کړي دي چه ډیر صوفیان او پیران



وادۀ نۀ کوي، دَ حلالو زنانو نه ځان ساتي، نو شیطان دَ ښائسته هلکانو سره دَ دوئ عشق او محبت پیدا کوي۔ او په دے باره کښې ئے ډیر واقعات نقل کړي دي۔ نو دے نه معلومه شوه چه څوك حلال شے پریدي نو هغه به په حرامو کښې واقع کیږي۔ او بیا دَ ظلم دپاسه دَ ظلم خبره داده چه کوي به ګناه او جوړوي به ورله حدیث۔

٤٦ – مَنْ رَفَعَ یَدَیْهِ فَلاَ صَلٰوةَ لَهٗ.

**ترجمه** : چاچه په مانځه کښې رفع الیدین اوکړل، نو دَهغه مونځ نۀ کیږي۔

**تشریح** : دا حدیث چا دَ ځانه جوړ کړے دے۔ دارنګه ټول هغه حدیثونه چه په هغے کښې په مانځه کښې دَ رفع الیدین نه منع راغلے وي، هغه ټول دروغ دي۔

ځکه چه په مانځه دَ رکوع کولو په وخت او دَ رکوع نه دَرا اوچتیدلو په وخت او دریم رکعت ته دَ پاسیدلو په وخت رفع الیدین کول (خپل دواړه لاسونه اوچتول) په صحیح احادیثو کښې ثابت دي۔ دَ ټولو محدثینوؒ په اتفاق سره ثابت دي۔ بلکه محدثینوؒ فرمائیلي دي چه دَ رفع الیدین احادیث متواتر دي۔ او دَ متواتر نه انکار کول کفر

(c) ketabton.com: The Digital Library



دي۔ لهذا په مانځه کښې رفع اليدين کول مسنون
مستحب عمل دے۔ لس نيکئ پرے ملاويږي۔ مګ
بعض خلقو دَ تعصب دَ وجے نه ددے دَ نهٔ کولو په باره کښ
دغه مذکوره دروغژن حديث جوړ کړے دے۔

دَ مسئلے دَ تفصيل پاره (فتاوى الدين الخالص،
الحق الصريح جلد څلورم اوګوره)۔

۴۷ – مَنْ زَارَنِیْ وَزَارَ اَبِیْ اِبْرَاهِیْمَ فِیْ عَامٍ وَاحِدٍ دَخَلَ الْجَنَّةَ
مَوْضُوْعٌ بَاطِلٌ .

**ترجمه** : نبی ﷺ وائی چا چه زما او دَ ابراهيم عليه السلام
په يو کال کښې زيارت اوکړو ۔ نو دے جنتی دے۔

**تشريح** : دَ زيارت متعلق بحث مخکښې تير شو
دے۔ ليکن دا حديث باطل او موضوعی دے ۔

۴۸ – مَنْ اَکَلَ مَعَ مَغْفُوْرٍ غُفِرَلَهٗ. مَوْضُوْعٌ کِذْبٌ.

**ترجمه** : چا چه دَ بخښلے شوی سړی سره خوراک
اوکړو نو هغه به هم وبخښلے شی۔

**تشريح** : دا حديث دروغ دی اوسو چه د روغ دی، ځکه
چه دَ انبياؤ سره منافقانو او کافرانو هم روټئ خوړلے ده۔
نو هغه به هم بخښلے کيږی ؟ دا قسم حديثونه خلقو



پيرانو او خپلو مشرانو په باره کښې جوړ کړی دی۔ او دا دَ
هغه چا خبرے دی چه هغوئ دَ اسلام دَ اصولو او بنيادی
خبرو نه نا خبره دی۔ هغه دا چه په اسلام کښې دَ نجات دپاره
صحيح ايمان او عمل صالح شرط دے۔ په خپله باندے دَ
ايمان او عمل صالح دَ مسائلو نه ځان نهٔ خبرول او دَ بل چا
په اوګو باندے مياشت ليدل دَ عقل او شعور والو طريقه نهٔ
ده۔ اعاذنا الله من التعمق۔

۴۹ – مَنِ اکْتَحَلَ يَوْمَ عَاشُوْرَاءَ بِالْاِثْمَدِ لَمْ تَرْمَدْ عَيْنَاهُ اَبَدًا.

**ترجمه** : چا چه دَ عاشورے په ورځ رانجه ولګول،
نو سترګے به ئے چخنے نشی۔

**تشريح** : دَ عاشورے په باره کښې شيعه ګانو او بعض
غلاتو (افراطی) مسلمانانو دَ ځانه حديثونه جوړ کړی
دی۔ هغه ټول غلط دی۔ صرف دَ روژے په باره کښې چه
کوم احاديث راغلی دی هغه صحيح ثابت دی۔ او يو حديث
چه هغه انتهائی ډير ضعيف دے چه هغه په خپل اهل او
عيال باندے دَ فراخئ راوستلو په باره کښې دے په دے
مياشت کښې۔

ليکن دے باره کښې هم علماؤ وئيلی دی چه دا حديث

(c) ketabton.com: The Digital Library



یا موضوعی دے اویا نهایت ضعیف دے۔

۵۰- مَسۡحُ الرَّقَبَةِ اَمَانٌ مِنَ الۡغُلِّ ۔

**ترجمه** : دَ څټ مسح کول په اودس کښې دا دَ طوق نه امان دے۔

**تشریح** : دَ څټ مسح کولو په باره کښې هیڅ حدیث ثابت نهٔ دے۔ په دے باندے باره کښې چه کوم درے روایتونه راغلی دی، په هغې کښې یو هم ثابت نهٔ دے، درے واړه سخت ضعیف دی۔ او په ضعیف حدیث باندے مستحب هم نهٔ ثابتیږی۔ دے وجے نه په اوداسهٔ کښې څټ مسح نشته۔ بعضِ خلق په کښې لا مرئ هم مسح کوی۔ دا هم بدعت دے۔

۵۱ - قِرَاءَةُ سُوَرِالۡقَلَاقِلِ اَمَانٌ مِنَ الۡفَقۡرِ.

**ترجمه** : دَ هغه سورتونو لوستل دَ کومو په اول کښې چه (قل) راځی، دَ فقر او نیستئ نه دَ خلاصیدو سبب دے۔

او هغه پنځه سورتونه دی، الجن، الکافرون، الاخلاص، المعوذتین۔

**تشریح** : دا حدیث باطل دے۔اګرکه په قرآن کریم کښې الله تعالی برکات ایخی دی دَ هر څه دپاره۔لیکن دَ ځانه



داسے خبره کول ناجائز دی، شریعت دا قِسم خبرے نهٔ خوښوی۔

۵۲- ملاعلی قاریؒ او ابن قیمؒ څه قواعد کلیه ذکر کړی دی، زهٔ هم بعضِ دلته لیکم۔

لَا يَصِحُّ تَعَيُّنُ قَبۡرِ نَبِيٍّ غَيۡرِ نَبِيِّنَا عَلَيۡهِ السَّلَامُ اِلَّا اَنَّ اِبۡرَاهِيۡمَ عَلَيۡهِ السَّلَامُ فِيۡ تِلۡكَ الۡقَرۡيَةِ وَلَا يُدۡرٰى مَكَانَهُ .

هر هغه حدیث چه دَ انبیاؤ دَ قبرونو دَ تعیین په باره کښې وی هغه به دروغ وی۔ لکه خلق وائی چه دَ نوح علیه السلام قبر دَ لبنان په غرکښې دے۔ دا دروغ دی۔ الله دَ هغوی قبرونه پټ کړی دی چه څوك ترے چرته عیدګاه او میله جوړه نکړی۔ لکه دَ اولیاؤ په قبرونو چه څنګه عُرسونه او میلے تیلے کیږی۔

۵۳- دَ ابوبکرؓ او عمرؓ او علیؓ دَ میلادونو په باره کښې هیڅ حدیث نشته۔

او کچرته وی هغه ټول غلط دی او دَ نبی ﷺ میلاد مناوول (نمانځل) هم بدعت او ناروا دے۔ ځکه چه حدیث کښې نشته صحابو نه دے کړے۔ بلکه نبی ﷺ دَ ربیع الاول په (۲) تاریخ وفات شوے دے لکه په اتقان، خازن کښې

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ سعید ابن جبیرؒ نه منقول دی - او خلق په دولسمه میلاد اوخیراتونه کوی -دا ټول رسمونه دی، چه ددے نه ځان ساتل ضروری دی-

٥٥- وَمِنْ هٰذَا حَدِيْثُ اَنَّ قَافِ جَبَلٌ مِنْ زُمُرُدَّةٍ خَضْرَاءَ مُحِيْطٌ بِالدُّنْيَا .

**ترجمه** : او دَ احادیث موضوعه نه دا هم ده چه قاف یو غردے دَ زمردونه او دَ دنیا نه ئے احاطه کړے ده -

**تشریح** : دا دَ خلقو خبرے دی، په صحیح روایت کښې ددے څه ذکر نشته، او کچرته وے، نو الله به په قرآن کریم کښې دَ دلیل په ځائے ذکر کړے وے - لکه څرنګه ئے چه نور دلیلونه ذکر کړی دی-

٥٦ - وَمِنْ هٰذَا اَنَّ الْاَرْضَ عَلٰى صَخْرَةٍ وَ الصَّخْرَةُ عَلٰى قَرْنِ الثَّوْرِ فَاِذَا حَرَّكَ الثَّوْرُ قَرْنَهُ تَحَرَّكَتِ الصَّخْرَةُ.

**ترجمه** : دا هم بے بنیاده حدیث دے چه زمکه دَ غوئی په خکر ټینګه ده، او زلزله دَ هغهٔ خکر دَ وجے نه کیږی-

**تشریح** : دا دَ بکواسیانو او قیصه ګو مُلیانو واعظانو قیصے دی په حدیث کښې ورله هیڅ اصل نشته-بلکه الله تعالیٰ په قرآن کښې وائی چه آسمان او زمکه زما په لاس



کښې دی- نور چا ته مے څه پکښې نهٔ دی ورکړی- یعنی اختیارات مے چاته نهٔ دی سپارلی -دے مخلوق دَ الله هر صفت بل چاته ورکړو تردے چه غوئے ئے دَ الله سره شریك کړو -لکه یهودیان او هندوان داسے کوی- دا روایت هم کوم یهودی یا هندو دَ ځانه جوړ کړے دے-

٥٧ - حَدِيْثُ : مِقْدَارِ الدُّنْيَا وَ اَنَّهَا سَبْعَةُ آلاَفِ سَنَةٍ.

**ترجمه** : دا حدیث بے بنیاده او دَ ځانه جوړ شوے دے چه دَ دنیا عمر اووه زره کاله دے-

**تشریح** : دا روایت یهودیانو جوړ کړیدے -ځکه ابن قیمؒ فرمائی چه مونږ په اووهٔ زرم کال کښې یو، پس هر چاته به داپته ولګی چه قیامت ته دوه سوه یو پنځوس (٢٥١) کاله پاتے دی -او زهٔ وائی چه په اووم زرم کال باندے نهه کم څلور سوه کاله زیات اوشو- نو قیامت خو تراوسه رانغے- نو معلومه شوه چه دا روایت غلط دے-

لیکن یاد ساتئ! دَ قیامت علامات موجود شوی دی بیا ابن قیمؒ او ملاعلی قاریؒ فرمائی، چه بعض جاهلان وائی چه نبی ﷺ ته دَ قیامت علم وو- لیکن تواضعًا ئے وئیلی دی چه ماته پته نشته دَ قیامت، دا دروغ دی- او

(c) ketabton.com: The Digital Library



پیغمبر ﷺ چرته دروغ نهٔ وائی ۔ او دروغو ته ځوک تواضع نه وائی۔ دَ قیامت علم صرف یو الله سره دے۔

۵۸– وَ مِنهَا صَلَوَاتُ الْاَیَّامِ وَ اللَّیَالِیْ کَصَلٰوۃِ یَوْمِ الْاَحَدِ وَلَیْلَۃِ الْاِ ثْنَیْنِ وَ یَوْمِ الْاِ ثْنَیْنِ وَلَیْلَۃِ الثُّلٰثَاءِ وَیَوْمِهَا وَلَیْلَۃِ الْاَرْبَعَاءِ وَیَوْمِ الْخَمِیْسِ وَلَیْلَۃِ الْجُمُعَۃِ وَیَوْمِهَا اِلٰی آخِرِ الْاُسْبُوْعِ۔

**ترجمه** : دَ شپو او دَ ورځو دَ نفلونو په باره کښې بعض خلقو څه حدیثونه جوړ کړی دی۔ مثلاً دَ خالی په ورځ دَ نفلونو، دَ ګل په شپه او ورځ کښې دَ نفلونو، دَ منګل (سے شنبے) په شپے او ددے په ورځ کښې دَ نفلونو، دَ چارشنبے په شپه او دَ زیارت په ورځ او دَ جُمعے په شپه او ورځ کښې دَ نفلونو دَ فضیلت په باره کښې کوم فضائل راغلی دی۔ چه چا دا نفل اوکړل نو دومره ثواب به ئے وشی۔

دا ټول موضوعی او دَ ځانه جوړ شوی روایتونه دی۔ په هیڅ صحیح حدیث کښې ددے ثبوت نشته۔

۵۹– صَلٰوۃُ الرَّغَائِبِ وَصَلٰوۃُ رَجَبَ وَصَوْمُهَا۔

**ترجمه** : مونځ دَ رغائب بدعت دے او مونځ دَ رجب او دارنګه دَ رجب دَ روژے په باره کښې حدیث نشته ۔

**تشریح** : مونځ دَ رغائب دا پخوا یو مونځ جوړ شوے



وو۔ خو علماء هغې ته بدعت وائی (ځکه چه دَ رسول الله ﷺ نه نهٔ دے ثابت) نو خلق ترے منع شول ۔ که ځوک اووائی چه مونځ خو عبادت دے دا چا منع کړے دے۔ خو مره چه کوی، او څنګه ئے چه کوی اختیار دے ؟

نو مونږ وایو : مونځ عبادت دے ۔او عبادت به مونږ دَ رسول الله ﷺ نه زده کوو۔ نو هغه چه چرته کړے وی، او اجازت ئے ورکړے وی۔ نو هغه مونځ به عبادت وی، او کوم مونځ چه رسول الله ﷺ نه دے کړے، او نه ئے پرے امر کړے وی، هغه بدعت دے۔

شیخ عبد القادر جیلانیؒ په الغنیه کښې ډیرے روژے او مونځونه دَ رجب بیان کړی دی ۔ لیکن هغه غلط او باطل حدیثونه دی۔ هغه چونکه صوفیانو ته مائل وی۔ او صوفیان دَ ضعیفو حدیثونو په باره کښې تحقیق نهٔ کوی۔

۶۰– کُلُّ صَلٰوۃٍ طَرِیْقُهَا یُخَالِفُ هٰذِهِ الصَّلَوَاتِ الْمَعْرُوْفَةِ اِلَّا التَّسْبِیْحُ وَصَلٰوۃِ الْحَاجَةِ فَبَاطِلٌ .

**ترجمه** : هر هغه مونځ چه هغه ددے مشهورو مونځونو نه خلاف وی، سیوا دَ صلوة تسبیح او صلوة حاجت نه، نو هغه به باطل وی۔

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ترجمه** : دَ دالو، وریژو، کلولو (لوبیا، کُرخو) او بانجیانو په باره کښې راغلی حدیثونه ټول غلط دی۔

**تشریح** : دا قِسم حدیثونه خیټورو مُلیانو او بنی اسرائیلو جوړ کړی دی۔

٦٥ – مِنْهَا ذِکْرُ فَضَائِلِ السُّوَرِ مِثْلُ مَا فَعَلَهُ فِیْ تَفْسِیْرِ الثَّعَالِبِیِّ وَکَشَّافِ الزِّمَخْشَرِیِّ.

**ترجمه** : دَ سورتونو دَ فضیلتونو په باره کښې احادیث باطل دی۔

**تشریح** : دَ بعض سورتونو فضیلت په احادیثو صحیحه ؤ کښې راغلے دے۔ لیکن تفسیر ثعلبی کښې او کشاف دَ زمخشری کښې څۀ احادیث دی چه په اول او آخر دَ سورۃ کښې ئې راوړی دی، هغه ټول موضوعی دی۔ دا قاعده یاده لره۔

٦٦– وَمِنَ الْقَوَاعِدِ الْکُلِّیَّةِ : اَنَّ نَقْلَ الْاَحَادِیْثِ النَّبَوِیَّةِ وَالْمَسَائِلِ الْفِقْهِیَّةِ وَالتَّفَاسِیْرِ الْقُرْآنِیَّةِ لَا یَجُوْزُ اِلَّا مِنَ الْکُتُبِ الْمُتَدَاوِلَةِ لِعَدَمِ الْاِعْتِمَادِ عَلٰی غَیْرِهَا مِنْ وَضْعِ الزَّنَادِقَةِ وَاِلْحَاقِ الْمَلَاحِدَةِ بِخِلَافِ الْکُتُبِ الْمَحْفُوْظَةِ .

**ترجمه** : دلته قاعده کلیه ده هغه دا چه حدیثونه او



مسئلے او تفسیر دَ آیتونو به دَ مشهورو کتابونو نه نقل کولے شی ځکه چه په نورو کتابونو اعتماد نشته۔ شاید چه زندیقانو او ملحدینو چرته دس پکښې کړے وی ځکه چه مشهور کتابونه خو دَ علماؤ یاد وی۔

**تشریح** : دا ډیره ښکلے قاعده ده ۔ مبتدعین اکثر خپل دلیلونه دَ داسے کتابونو نه پیش کوی چه هغه هیڅوك نۀ پیژنی ۔ لکه وائی چه (فتاوی نورالهدی) کښې لیکلی دی۔ (چلپی) کښې ئې لیکلی دی ۔ (درة الناصحین) کښې (مواعظ شریف) کښې ئې لیکلی دی۔ (لمعات شریف دمشکوة شریف) یوه غیر مستند غوندے شرح ده۔

٦٧– اَحَادِیْثُ الْعَقْلِ کُلُّهَا بَاطِلَةٌ :

**ترجمه** : دَ عقل په باره کښې راغلی حدیثونه ټول باطل دی۔

**تشریح** : لکه خلق وائی اول الله تعالی عقل پیدا کړو بیا فلانکے شے۔ حال دا دے چه صحیح حدیث کښې داسے دی چه اول الله قلم پیدا کړے دے ۔ (مشکوة شریف)۔

٦٨– قَالَ عَلَیْهِ السَّلَامُ لَیْسَ لِفَاسِقٍ غِیْبَةٌ . مَوْضُوْعٌ.

**ترجمه** : نبی ﷺ فرمائی : دَ فاسق سری غیبت جائز

(c) ketabton.com: The Digital Library



دے۔

**تشریح** : علماء وائی چه دا خبره مطلقا نهٔ ده، بلکه دَ هغه سړی غیبت منع نهٔ دے چه ښکاره یو کار کوی۔ او ته ورله هغه ذکرکړے۔لکه یو سړے ږیره خروی، ته ووایه چه فلانکے خو ږیره خروی۔نو دا ناروا نهٔ دی او نور غیبتونه حرام دی اکثر خلق په دے وخت کښ په دے مرض کښ اخته دی۔او په دلیل کښ دا حدیث ذکر کوی، حالانکه دا حدیث ثابت نهٔ دے۔نو ددینه ځان ساتل پکاردی۔

٦٩– قَالَ ﷺ : اَنَا مَدِيْنَةُ الْعِلْمِ وَعَلِيٌّ بَابُهَا.

**ترجمه** : نبی ﷺ فرمائی چه ځهٔ دَ علم ښاریم او علیؓ ئے دروازه ده۔

**تشریح** : دا حدیث باطل دے او شیعه گانو جوړکړے دے۔یحیی بن معینؒ او ابوحاتمؒ ورته دروغژن حدیث وئیلی دی۔

٧٠– اِنَّ عَبْدَ الرَّحْمٰنِ بْنَ عَوْفٍ يَدْخُلُ الْجَنَّةَ حَبْوًا.

**ترجمه** : عبدالرحمن بن عوف رضی الله عنه بهٔ دَ ډیرمال په وجه جنت ته په خړپوسو خړپوسو ځی۔

**تشریح** : دا حدیث بالکل غلط دے۔ بلکه هغه په



عشره مبشره صحابه ؤ کښ دے ۔دَ هغه ډیر فضیلتونه دی۔هغه خو اکثرمال دَ الله جل جلاله په لاره کښ لګولے وو۔

دا حدیث ما ځکه په دے کتاب کښ اولیکهٔ ،چه مولانا زکریا په خپل کتاب (فضائل صدقات) کښ راوړے دے۔اوهغه په ټوله دنیا کښ خوریږی۔

حالانکه مولانا زکریا (دَ مروجه تبلیغ مشر) له پکار وو، چه ددے قِسم بے بنیاده حدیثونو نه ئے ځان ساتلے وے، او امت ته ئے صحیح حدیثونه پیش کړی وی۔ حالانکه په (فضائل اعمال) او (فضائل صدقات) کښ ډیرے بنیاده، ضعیف او منکرت حدیثونه او دَ شریعت خلاف خبرے لیکلے شوی دی۔ چه په دے باندے امت گمراه کیږی۔

نودَ داسے قسم روایتونونه ځان ساتل پکاردی۔

٧١– ثَلَاثَةٌ تَزِيْدُ فِي الْبَصَرِ النَّظْرَةُ اِلَى الْخُضْرَةِ وَالْمَاءِ الْجَارِيْ وَالْوَجْهِ الْحَسَنِ .لَمْ يَقُلْهُ الرَّسُوْلُ ﷺ .

**ترجمه** : دَ نبی ﷺ ارشاد دے چه درے خیزونه نظر تیزوی۔شنوبوټوته کتل، روانو اوبوته کتل، اوښائسته مخ ته۔

(c) ketabton.com: The Digital Library



**تشریح** : دا دَ نبی ﷺ ارشاد نه دے، بلکه دا قسم
خبرے دَ طبیبانو او تجربه کارو خلقو دی۔

دا حدیث دَ خلقو په خوله کښ ډیر مشهور دے ځکه ما
تنبیه ورکړه چه رسول الله ﷺ ته دَ بکواس اوبے فائدے
خبرے نسبت کول سخته گناه او غلط کار دے۔

۷۲- مَنِ اشْتَرَى دِيْكًا اَبْيَضَ لَمْ يَقْرَبْهُ شَيْطٰنٌ وَلَا سِحْرٌ.

**ترجمه** : چا چه سپین چرگ واخسته، نو شیطان او
جادو به ورته نه نزدے کیږی۔

**تشریح** : دا چا هسے دَ گپ خبره کړے ده۔ رسول الله
ﷺ ددے قِسم خبرو نه بیزاره دے۔ بلکه علماء وائی چه د
چرگ په فضیلت کښ سوا دَ یو حدیث نه هیڅ نه دی
ثابت، او هغه یو حدیث دادے : (چه دَ چرگ آواز واورئ نو دَ
الله تعالی نه دَ هغهٔ دَ فضل سوال کوئ)۔

ددے یو حدیث نه علاوه چه څوك دَ چرگ په باره کښ هر
قِسم روایت بیانوی، نو هغه به غلط وی۔

۷۳- كُلُّ حَدِيْثٍ فِىْ ذَمِّ الْوَلِيْدِ وَمَرْوَانَ بْنِ الْحَكَمِ فَهُوَ
بَاطِلٌ.

**ترجمه** : هر هغه حدیث چه په مذمت او بدئ دَ ولید



او دَ مروان کښ وی، نو هغه به باطل وی۔

**تشریح** : بعضِ خلق وائی چه ولید دَ فرعون نوم
وو۔نو دا ایخودل گناه ده۔دا خبره بے بنیاده ده۔ دارنگه هغه
خلق چه دَ صحابه ؤ دشمنان دی هغوی دَ مروان پسے ډیرے
خبرے جوړے کړیدی۔ لیکن هر تاریخ کښ غلطی
او تعصب شته۔یو درے تاریخونه دی چه هغه ډیر ښه دی۔

۱- العواصم من القواصم۔

۲- منهاج السنة النبوية۔

۳- تاريخ الطبري۔

۷۴- كُلُّ حَدِيْثٍ فِىْ ذَمِّ يَزِيْدَ وَمُعَاوِيَةَ فَهُوَ بَاطِلٌ.

**ترجمه** : هر هغه حدیث چه په ذم او بدئ دَ معاویه
او یزید کښ وی هغه به باطل وی۔

**تشریح** : معاویه رضی الله عنه دَ رسول الله ﷺ جلیل
القدر صحابی دے او دا صحابیؓ دَ شیعه گانو او روافضو
دشمن دے۔

او یزید دَ معاویه رضی الله عنه ځوئے دے۔

په بعضِ اهلِ سنتو مسلمانانو کښ هم دَ شیعه گانو
عادت راغلے دے، هغه دا چه خپلو بچوله معاویه او یزید

(c) ketabton.com: The Digital Library



نوم نهٔ ږدی، ددے نه سخت نفرت کوی۔ بلکه دا دَ دوئ په نیز کنځل وی۔ چه دَ یزید ځویه۔

٧٥- كُلُّ حَدِيْثٍ فِيْ ذَمِّ اَبِيْ مُوْسَى الْاَشْعَرِيِّ وَعَمْرِو بْنِ الْعَاصِ فَهُوَ بَاطِلٌ بِلَا شَكٍّ لِجَلَالَةِ قَدْرِهِمَا .

**ترجمه** : هر هغه حدیث چه دَ ابو موسی الاشعریؓ او عمرو بن العاصؓ دَ مذمت او بدئ په باره کښې وی نو هغه به باطل وی۔ ځکه چه دا صحابه کرام رضی الله عنهم لوئ شان لری۔ او دَ صحابهٔ دشمنان ډیردی، ځکه میوه دار ونه خلق په ګټو ولی۔

٧٦- قَالَ عُمَرُ : اَمَا وَاللهِ لَقَدْ عَلِمْتُ اَنَّكَ حَجَرٌ وَلَوْلَا اَنِّيْ رَاَيْتُ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ يُقَبِّلُكَ مَاقَبَّلْتُكَ، وَفِيْ رِوَايَةٍ اِنَّكَ حَجَرٌ لَا تَنْفَعُ وَلَا تَضُرُّ. (متفق علیه)

**ترجمه** : د عمرؓ حجراسود خکل کړو۔او دائے وفرمایل چه ماته پته ده چه ته کانړے ئے۔نه چاته فائده ورکولے شے اونه نقصان ۔لیکن د رسول الله ﷺ عمل دے ځکه ما اوکړو۔

**تشریح** : دَ عمرؓ دا خبره ددے دپاره کړے وه په موسم د حج کښې چه خلقو کښې دَ شرك عقیده خوره نشی په سبب



دَ حجراسود سره۔ ځکه چه خلق به وائی چه حجراسود ښکلول جائزدی ۔ نو مونږ به دَ باباګانو ګټے او جاروګانے په ځان راکاږو۔ نو عمر رضی الله عنه دَ خلقو دا غلط ګمان ختم کړو۔ دا صحیح روایت دے تردے ځائے پورے۔

ددے نه روستو چا غلطه خبره دَ ځانه ورسره یو ځائے کړے ده۔ چه هر کله عمر رضی الله عنه مذکوره خبره اوکړه، نو علیؓ عمرؓ ته جواب ورکړو۔ او وے فرمایل چه ولے حجراسود ضرر اونفع نشی ورکولے ؟ دا به قیامت کښې راشی اوګواهی به ورکوی په هغه کسانو چاچه ښکل کړے وی۔

دا روستنئ خبره دَ علیؓ موضوعی ده، مشرکانو دَ خپل شرك ثابتولو دپاره ځان ته لاره پرانستے ده۔

مطلب دا چه علی رضی الله عنه ته چه چا دغه خبره منسوب کړے دے، نو دا نسبت هغهٔ ته کول غلط دی، هغهٔ نه دغه جُمله نهٔ ثابته۔

وما علینا الا البلاغ

کتبه ابو محمد امین الله البشاوری۔

(c) ketabton.com: The Digital Library



OOOOO

# ضمیمه

دے ځائے پورے رساله (موضوعی حدیثونه) سره دَ ترجمے او تشریح نه پوره شو۔

دَ فائدے دَ زیاتوالی دپاره دَ شیخ ابو محمد امین الله البشاوری حفظه الله په تصحیح او نظر ثانی سره ددے تکمیل او اضافه کیږی، او دَ موضوعی حدیثونو تعداد سلو (۱۰۰) پورے رسیږی۔

اضافه از

ابو سلمان حضرت محمد غفر الله له

OOOOO



٧٧ – اَنَا خَاتَمُ النَّبِيِّيْنَ، لَا نَبِيَّ بَعْدِیْ، اِلَّا اَنْ يَّشَاءَ اللّٰهُ.

**ترجمه** : زهٔ دَ ټولو انبیاؤ نه آخری نبی یم، مانه پس بل پیغمبر نشته، مګر که الله ئے اوغواړی۔

**تشریح** : دا حدیث چا دَ ځانه جوړ کړے دے۔ ځکه په دے کښې دا خبره کول چه (که الله اوغواړی) دَ ختمِ نبوت دَ عقیدے خلاف خبره ده۔ دَ تمام امت په دے اتفاق دے چه دَ نبی کریم ﷺ نه روستو بل هیڅ نبی نهٔ راځی۔ الله تعالیٰ په دهٔ باندے دَ انبیاء کرامو سلسله بنده کړے ده۔ مذکوره حدیث دَ استثناء په لحاظ سره دَ ځانه جوړ شوے دے۔ او صرف دا الفاظ ثابت دی چه (انا خاتم النبیین، لا نبی بعدی)۔ لیکن ددے نه پس الفاظ ثابت نهٔ دی۔ بلکه چا دَ ځانه جوړ کړی دی۔

امام سیوطیؒ فرمائی : دا استثناء موضوع ده۔ امام شوکانیؒ فرمائی : دا استثناء کوم زندیق دَ ځانه جوړه کړیده۔

(الموضوعات لابن الجوزی : ۱/۲۷۹، الفوائد المجموعة، ص : ۳۲۰، للشوکانی).

(c) ketabton.com: The Digital Library



٧٨ – مَنْ عَشِقَ فَعَفَّ فَكَتَمَ فَمَاتَ مَاتَ شَهِيدًا.

**ترجمه** : څوک چه عاشق شو او ځان ئے پاکدامن اوساتهٔ او عشق ئے پټ کړو او مړ شو، نو دے شهید دے۔

**تشریح** : دا حدیث بے بنیاده دے۔ ځکه ددے حدیث نه دَ عشق فضیلت معلومیږی حالانکه عشق یوه بیماری ده۔ ددے خبرے نسبت رسول الله ﷺ ته کول جائز نهٔ دی۔

(ضعیف الجامع الصغیر : ٥٦٩٧).

٧٩ – مَنْ قَلَّدَ عَالِمًا لَقِيَ اللّٰهَ سَالِمًا.

**ترجمه** : چا چه دَ یو عالم تقلید اوکړو، نو الله سره به روغ رمټ ملاؤ شی۔

**تشریح** : دا حدیث بے بنیاده دے۔

(السلسلة الضعیفة : ٥٥١)

او دا هغه چا جوړ کړے دے چه هغه دَ دلیل دشمنان دی۔ ځکه چه په دین کښې دَ تقلید نه منع راغلے ده۔ تقلید وئیلے کیږی دَ چا بے دلیله پیروی کول۔ تقلید تیارهٔ ده او دَ دلیل رنړا ده۔ نو دَ رنړا په ځائے دَ تیارے فضیلت څنګه بیان کړے شی ؟

او دا حدیث کوم مقلد په رسول الله ﷺ باندے په



دروغه جوړ کړے دے او دَ خپل خود ساخته تقلید دَ اثبات دپاره ئے دا حدیث نبی کریم ﷺ ته منسوب کړے دے۔

٨٠ – عَلَيْكُمْ بِلِبَاسِ الصُّوفِ تَجِدُوْا حَلَاوَةَ الْإِيْمَانِ فِيْ قُلُوْبِكُمْ.

**ترجمه** : تاسو وړینه جامه آغوندئ نو دَ ایمان خوند به په خپلو زړونو کښې بیامومئ۔

**تشریح** : دَ انسان دپاره شریعت هر قِسم جامه آغوستل جائز کړی دی۔ دا حدیث دَ ځانه جوړ شوے دے۔ دَ ایمان خوند چه انسان مومی نو هغه په باطنی او ظاهری اعمالو پورے آړه لری۔ په یو خاص لباس او جامے آغوستلو سره نهٔ په ایمان کښې زیاتے راځی او نهٔ کمے۔ دے حدیث ته امام ابن الجوزیؒ، شیخ البانیؒ، امام سیوطیؒ او علامه شوکانیؒ موضوع او دَ ځانه جوړ شوے وئیلی دی۔

(ضعیف الجامع الصغیر : ٣٧٩٠، الموضوعات لابن الجوزی ٣/٤٨، اللآلی المصنوعة ٢/٢٢٣، الفوائد المجموعة : ١/١٩٢).

٨١ – لِكُلِّ شَيْءٍ أُسٌّ وَأُسُّ الْإِيْمَانِ الْوَرَعُ.

**ترجمه** : دَ هر یو شئ دپاره بنیاد وی او دَ ایمان بنیاد پرهیزګاری ده۔

(c) ketabton.com: The Digital Library



**تشریح** : په دې کښې هیڅ شك نشته چه وَرَع (دَ حرامو نه ځان ساتل او پرهیزګاری اختیارول) دَ مؤمن صفت او لوئے فضیلت دے۔ لیکن ددے په فضیلت کښې دا مذکوره حدیث چا دَ ځانه جوړ کړے دے۔ نبی ﷺ ته ددے نسبت کول جائز نهٔ دی۔

(موضوع : السلسلة الضعيفة ١٩١٣، ضعيف الجامع الصغير: ٤٧١٩).

**٨٢ – لَيْسَ بِمُؤْمِنٍ مُسْتَكْمِلِ الْإِيْمَانِ مَنْ لَمْ يَعُدَّ الْبَلَاءَ نِعْمَةً وَالرَّخَاءَ مُصِيْبَةً.**

**ترجمه** : هغه څوك پوره مؤمن نهٔ دے چه آزمایشت نعمت اونهٔ ګنړی او فراخی او خوشحالی مصیبت اونهٔ ګنړی۔

**تشریح** : دا حدیث هم چا دَ ځانه جوړ کړے دے۔

(موضوع : ضعيف الجامع الصغير : ٤٨٨٧، السلسلة الضعيفة: ٤٣٧٤).

او ددے حدیث مضمون دَ صحیح احادیثو خلاف هم دے۔ ځکه صحیح احادیثو کښې دَ مؤمن صفت دا خودلے شوے دے، چه کله دهٔ ته مصیبت اورسی نو صبر کوی،



او که خوشحالی فراخی ورته اورسی نو شکر کوی او دَ الله حمد او ثناء وائی۔ په نعمت باندے چه شکر اوکړی نو الله تعالیٰ ورله په دغه نعمت کښې نوره اضافه کوی۔ پاتے شوه دا خبره چه انسان دَ الله تعالیٰ دَ طرفه فراخی او خوشحالی مصیبت اوګنړی نو ګویا دا دَ الله دَ نعمتونو ناشکری ده۔ دے وجے نه دا حدیث دَ لفظ او معنیٰ دواړو په لحاظ صحیح نهٔ دے، بلکه دَ ځانه جوړ شوے دے۔

**٨٣ – اَلْإِيْمَانُ لَا يَزِيْدُ وَلَا يَنْقُصُ.**

**ترجمه** : ایمان کښې نهٔ زیاتے راځی اونهٔ کمے۔

**تشریح** : امام ابن الجوزیؒ فرمائی : دا حدیث چا دَ ځانه جوړ کړے دے۔ دارنګه امام سیوطیؒ فرمائی چه دا حدیث احمد بن عبد الله الشیبانی (نومے راوی) دَ ځانه جوړ کړے دے۔

(الموضوعات لابن الجوزیؒ ١/١٣٢، اللآلی المصنوعة: ١/٤٢).

او دا منکرت حدیث دَ قرآن نه هم خلاف دے۔ ځکه دَ قرآن کریم نه ثابته ده چه په ایمان کښې زیاتے راځی۔ او په کوم شیٔ کښې چه زیاتے راځی نو په هغے کښې کمے هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



راځی۔ داسے معلومیږی چه دا حدیث مرجئه (گمراه) فرقے دَ خپل مذهب دَ تائید دپاره جوړ کړے دے۔ ځکه دَ مُرجئه فرقے مذهب دادے چه په ایمان کښ نهٔ زیاتے راځی او نهٔ کمے۔ دَ دوئ مقصد دَ عمل صالح قیمت کمول دی۔ او دَ اهل السنت والجماعت عقیده داده چه ایمان کښے زیاتے او کمے دواړه راتلے شی۔ قرآن کښ الله فرمائی : ﴿ زادتهم ایمانا ﴾ (دا آیتونه دَ مؤمنانو ایمان زیاتوی)۔

دارنگه دا راتلونکے حدیث :

٨٤ – اَلْاِیْمَانُ مُثْبَتٌ فِی الْقَلْبِ کَالْجِبَالِ الرَّوَاسِیْ وَزِیَادَتُهٗ وَنُقْصَانُهٗ کُفْرٌ.

**ترجمه** : ایمان په زړهٔ کښ لکه دَ مضبوطو غرونو غوندے پروت وی، ددے زیاتیدل او کمیدل کفر دے۔

**تشریح** : دا حدیث هم چا دَ ځانه جوړ کړے دے۔ او په دے سره ئے دَ قرآن خلاف کړے دے۔

(موضوع : السلسلة الضعیفة : ٤٦٤).

٨٥ – مَنْ قَالَ : اَنَا مُؤْمِنٌ اِنْ شَاءَ اللّٰهُ فَلَیْسَ لَهٗ فِی الْاِسْلَامِ نَصِیْبٌ.

**ترجمه** : چا چه داسے اووئیل چه زهٔ ان شاء الله مؤمن



یم، نو په اسلام کښ ددهٔ هیڅ حصه نشته۔

**تشریح** : یعنی چه څوك په ایمان کښ استثناء اوکړی (ان شاء الله اووائی) نو دا کافر دے۔

دا حدیث ابن تیم راوی دَ ځانه جوړ کړے دے۔ او دا هیڅ اصل او بنیاد نهٔ لری۔

(الموضوعات لابن الجوزی : ١/١٣٥، اللآلی المصنوعة : ١/٤٤، الفوائد المجموعة للشوکانی : ١/٤٥٣).

حالانکه ان شاء الله دَ تبرك دپاره ده او یا دَ راتلونکے وخت دپاره ده۔ په ایمان کښ ان شاء الله وئیل دَ بعضِ صحابوؓ نه هم ثابته ده۔ هیڅ باك نهٔ لری۔

٨٦ – اَلْقَلْبُ بَیْتُ الرَّبِّ.

**ترجمه** : زړهٔ دَ الله تعالیٰ کور دے۔

**تشریح** : امام ابن تیمیهؒ فرمائی : دا دَ نبی کریم ﷺ خبره نهٔ ده۔ امام زرکشیؒ، امام سخاویؒ او امام شوکانیؒ فرمائی : ددے هیڅ اصل او بنیاد نشته۔

(المصنوع فی معرفة الحدیث الموضوع ص : ١٣١، المقاصد الحسنة ص : ٤٩٢، الفوائد المجموعة ص : ١٠٢).

دا حدیث کوم صوفی او پیر جوړ کړے دے۔

(c) ketabton.com: The Digital Library



٨٧ – لَوْلَا النِّسَاءُ لَعُبِدَ اللّٰهُ حَقًّا.

**ترجمه** : که ښځې نهٔ وے نو دَ الله تعالیٰ عبادت به په حقه سره خامخا کیدلے۔

**تشریح** : امام ابن الجوزیؒ فرمائی : ددے حدیث هیڅ اصل او بنیاد نشته۔ امام شوکانیؒ فرمائی : ددے په سند کښې دوه متروك (پریخودلے شوی) راویان او یو منکر راوی دے۔ امام ابن عدیؒ فرمائی : دا حدیث منکر دے۔

(الموضوعات لابن الجوزی : ٢/٢٥٥، الفوائد المجموعة ص ١٩٩، اللآلی المصنوعة : ٢/١٣٤).

او ددے منکرت حدیث معنیٰ دَ قرآن او صحیح احادیثو خلاف هم ده۔ ځکه چه په دے حدیث کښې زنانه عذاب گنړلے شوی دی، حالانکه په قرآن او صحیح احادیثو کښې دَ زنانو وجود رحمت او نعمت ښودلے شوے۔

٨٨ – مَنْ زَارَ قَبْرَ وَالِدَيْهِ كُلَّ جُمُعَةٍ فَقَرَأَ عِنْدَهُمَا يٰس غُفِرَ لَهُ بِعَدَدِ كُلِّ آيَةٍ أَوْ حَرْفٍ.

**ترجمه** : چاچه دَ هرے جُمعے په ورځ دَ خپل مور پلار دَ قبرونو زیارت اوکړو، او دَ هغوئ دَ قبرونو په خوا کښې ئے سورتِ یٰسین اولوستهٔ نو دهٔ ته به دَ هریو آیت او حرف په



اندازه مغفرت اوکړے شی۔

**تشریح** : دَ قبرونو زیارت له تلل مسنون دی۔ لیکن دا حدیث چا دَ ځانه جوړ کړے دے۔ په دے کښې دَ قبر په خوا کښې دَ سورتِ یاسین لوستلو ذکر دے۔ حالانکه په مقبره کښې دَ قرآن لوستلو نه منع راغلے ده۔ دَ نبی کریم ﷺ او دَ صحابه کرامو نه هیچرته دا ثابته نهٔ ده چه هغوئ په مقبره کښې کوم مړی ته تلاوت کړے وی۔ نو دَ ځانه دین جوړول جائز نهٔ دی، بلکه لوئے جُرم دے۔

(موضوع : السلسلة الضعیفة : ٥٠).

٨٩ – أَرْبَعٌ لَا يُشْبِعْنَ مِنْ أَرْبَعٍ : عَيْنٌ مِنْ نَظَرٍ، وَأَرْضٌ مِنْ مَطَرٍ، وَأُنْثَى مِنْ ذَكَرٍ، وَعَالِمٌ مِنْ عِلْمٍ.

**ترجمه** : څلور څیزونه دَ څلور څیزونو نه نهٔ مړیږی : سترگه دَ کتلو نه، زمکه دَ بارانه نه، ښځه دَ سړی نه، او عالم دَ علم نه.

**تشریح** : امام سخاویؒ فرمائی : ددے حدیث په سند کښې داسے راویان راغلی دی چه هغوئ به دَ ځانه دروغژن حدیثونه جوړول۔ شیخ البانیؒ هم دا حدیث په دروغژنو حدیثونو کښې ذکر کړے دے۔ دا دَ رسول الله ﷺ خبره نهٔ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ده۔

(الموضوعات : ١/٢٣٥، المقاصد الحسنة : ٩٨، ضعيف الجامع : ٧٦٣).

٩٠ – مِدَادُ الْعُلَمَاءِ أَفْضَلُ مِنْ دَمِ الشُّهَدَاءِ.

**ترجمه** : دَ علماؤ سیاهی دَ شهیدانو دَ وینے نه بهتره ده۔

**تشریح** : په دے کښې هیڅ شك نشته چه دَ الله په نیز حق پرست علماء چه دَ قرآن او حدیث متبعین وی، ډیر زیات فضیلت او غوره والے لری، لیکن رسول الله ﷺ ته ددے مذکوره خبرے نسبت کول صحیح نهٔ دی۔ امام سیوطیؒ نقل کړی دی چه خطیب بغدادیؒ دے حدیث ته دروغژن حدیث وئیلے دے۔

شیخ حُوتؒ فرمائی چه ددے په سند کښې محمد بن جعفر راوی باندے دَ حدیث جوړولو تور لګیدلے دے۔ شیخ البانیؒ هم دے حدیث ته موضوع (منګړت) وئیلے دے۔

(الدرر المنتثرة، ص : ١٧، أسنى المطالب، ص : ٢٥٤، السلسلة الضعيفة : ٤٨٣٢).

٩١ – اِنَّمَا تَكُوْنُ بَعْدِيْ رُوَاةٌ يَرْوُوْنَ عَنِّيْ الْحَدِيْثَ فَاَعْرِضُوْا



حَدِيْثَهُمْ عَلَى الْقُرْآنِ فَمَا وَافَقَ الْقُرْآنَ فَخُذُوْا بِهِ وَمَا لَمْ يُوَافِقِ الْقُرْآنَ فَلَا تَأْخُذُوْا بِهِ.

**ترجمه** : بیشکه مانه پس به څهٔ داسے خلق وی چه مانه به حدیثونه روایت کوی، تاسو دَ هغوئ روایت کړی حدیثونه په قرآن باندے پیش کړئ۔ کوم حدیثونه چه دَ قرآن موافق وی هغه قبول کړئ، او کوم حدیثونه چه دَ قرآن خلاف وی، هغه مهٔ قبلوئ۔

**تشریح** : شیخ معلمیؒ نقل کړی دی چه محدثینوَ دے حدیث ته موضوع (منګړت) وئیلی دی۔

(الأنوار الكاشفة ص : ٢٦٠، السلسلة الضعيفة : ١٠٨٧).

دا خبره یاده لرل پکار دی چه اسلامی دین دَ دوه څیزونو نه جوړ شوے دے۔

(١) قرآن (٢) صحیح حدیثونه۔

قرآن کریم مستقل دلیل دے او سُنتِ رسول ﷺ مستقل دلیل دے۔ دارنګه دا خبره هم یادول پکار دی چه هیڅ کله صحیح حدیث دَ قرآن کریم خلاف نهٔ راځی۔ که چاته خلاف معلوم شی نو دا به دَ هغهٔ کم علمی او کم فهمی وی۔

(c) ketabton.com: The Digital Library



دے وجے نه مذکوره حدیث کښ چه کوم مضمون بیان شوے، نو دا صحیح نۀ دے۔ ځکه هر کله چه حدیث مستقل دلیل دے، نو بیا په قرآن باندے دَ هغے دَ پیش کولو څۀ معنیٰ ده ؟

نبی کریم ﷺ فرمائی :

اَلا اِنِّیْ اُوْتِیْتُ الْکِتَابَ وَمِثْلَهٗ مَعَهٗ.

(صحیح ابن ماجه، صحیح ابی داود).

(خبردار ! ماته قرآن راکړے شوے دے او ددے پشان ددے سره یو بل شے یعنی حدیث هم راکړے شوے دے)۔

قرآن کریم وحی جلی ده، او حدیث وحی خفی ده۔ دواړه دَ الله د طرفه دی۔ دے وجے نه صحیح حدیث دَ قرآن خلاف هیڅ کله نۀ راځی، هاؤ ضعیف او منکرت حدیثونه دَ قرآن خلاف راتلے شی۔

۹۲ – اِنَّ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ لَمْ یَکُنْ یُرٰی لَهٗ ظِلٌّ فِیْ شَمْسٍ وَّلَا قَمَرٍ.

**ترجمه** : دَ رسول الله ﷺ دپاره نۀ په نمر کښ سورے لیدل کیدۀ او نۀ په سپوږمئ کښ۔

**تشریح** : دا حدیث چا دَ ځان جوړ کړے دے۔



(مناهل الصفاء فی تخریج أحادیث الشفاء ص : ۷).

په دے حدیث باندے بریلیانو استدلال کړے دے چه نبی کریم ﷺ بشر نۀ وو ځکه چه دَ هغۀ سورے نۀ لیدل کیدۀ۔ لیکن دا حدیث چا دَ ځانه جوړ کړے دے۔ نو ددے نه استدلال کول هم غلط دی۔ او دَ بریلیانو تولے عقیدے په خوبونو، بے سنده واقعاتو او منکړتو حدیثونو بناء دی۔ حالانکه دَ نبی کریم ﷺ بشریت او انسانیت په قرآن کریم او صحیح احادیثو او په اجماع دَ امت سره ثابت دے۔

الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ اِنَّمَا اَنَا بَشَرٌ مِّثْلُکُمْ یُوْحٰی اِلَیَّ ﴾۔

(بیشکه زۀ خو ستاسو پشان یو انسان یم چه وحی راته کیږی)۔ او حدیث کښ دی، عائشه رضی الله عنها فرمائی : کان بشرا من البشر۔

(نبی کریم ﷺ دَ انسانانو نه یو انسان وو)۔

دے وجے نه دَ نبی کریم ﷺ دَ بشریت او انسانیت نه انکار کولو ته علماؤ کفر وئیلی دی۔

۹۳ – رَأَیْتُ رَبِّیْ بِمِنیً عَلٰی جَمَلٍ عَلَیْهِ جُبَّةٌ.

**ترجمه** : ما خپل رب په مِنیٰ کښ په یو اوښ سور اولیدلو چه چوغه ئے آغوستے وه۔

(c) ketabton.com: The Digital Library



**تشریح** : دا منکرت او دَ ځانه جوړ شوے حدیث دے۔
او ددے حدیث معنیٰ هم غلطه ده ځکه چه دَ الله تعالیٰ په باره کښې دا قِسم الفاظ وئیل دَ هغهٔ سخته بے ادبی ده۔ الله تعالیٰ ددے هر څهٔ نه پاك او منزه دے۔ دَ هغهٔ شان ددے نه ډیر زیات اوچت دے۔ امام هرویؒ، علامه طاهر پټنیؒ، حافظ ابن عراقؒ اوشیخ البانیؒ ټولو دا حدیث منکرت ګنړلے۔

(المصنوع فی معرفة الحدیث الموضوع ص : ١٠٢، تذکرة الموضوعات ص : ١٢، تنزیه الشریعة المرفوعة : ١/١٥٢، السلسلة الضعیفة ٦٣٣٠).

٩٤ – اِذَا حُدِّثْتُمْ عَنِّیْ بِحَدِیْثٍ یُوَافِقُ الْحَقَّ فَخُذُوْا بِهِ حَدَّثْتُ اَوْ لَمْ اُحَدِّثْ.

**ترجمه** : کله چه تاسو ته زما دَ طرف نه څوك حدیث بیان کړی او هغه دَ حق سره موافق وی، نو هغه قبول کړئ برابره خبره ده که هغه ما وئیلے وی او که نهٔ۔

**تشریح** : دا حدیث موضوعی او منکرت دے۔ علامه ابن جوزیؒ او علامه شوکانیؒ ورته موضوعی وئیلی دی۔

(الموضوعات : ١/٢٥٨، الفوائد المجموعة، ص : ٢٧٨،



کشف الخفاء : ١/٨٦، أسنی المطالب ص : ٤٠، اللآلی المصنوعة : ١/١٩٥).

او ددے حدیث معنیٰ هم غلطه ده ځکه چه په دے کښې دَ دروغو حدیثونو جوړولو طرفته لاره هواره شوے ده۔ حالانکه که چا دَ ځانه یوه خبره اوکړه او هغه ئے نبی کریم ﷺ ته منسوب کړه، نو که هغه بظاهر صحیح هم وی، خو بیا به هم دغه خبره دروغژن حدیث ګنړلے کیږی۔ ځکه چه ددے خبرے نسبت نبی ﷺ ته کول غلط دی۔

نبی کریم ﷺ ته به صرف دَ هغه خبرو نسبت کولے شی، کومے خبرے چه هغوئ کړے وی۔ او دَ هغے صحیح سند معلوم وی۔ بے سنده او دَ ځانه جوړے شوے خبرے نبی کریم ﷺ ته منسوب کول سخت ترین جُرم دے۔

بلکه سره دَ علم نه دے کار کولو ته بعضِ علماء کفر هم وائی۔ نبی کریم ﷺ ته دَ یوے خبرے په منسوب کولو به دَ انتهائی احتیاط نه کار اخستل کیږی۔

څوك چه نبی ﷺ ته دَ یوے خبرے نسبت کوی، نو یا خو به خپله نبی ﷺ پورے خپل سند رسوی، او یا به په یو داسے کتاب حواله ورکوی چه هغه په مسلمانانو کښې

(c) ketabton.com: The Digital Library



په صحت باندے مشهور وی۔ او یا به دَ حدیث دَ صحت یا ضعف درجه بیانوی۔

شاید چه په دے دروغژن حدیث باندے بعضِ خلق دهوکه شوی دی چه کومه خبره ورته بظاهر ښه ښکاره شی، نو په رسول الله ﷺ باندے ئے ور اوتپی۔ حالانکه هغهٔ نهٔ وی وئیلی۔ دیته موضوعی او منکرت حدیث وئیلے کیږی۔ په دے باب کښ دَ ډیر احتیاط نه کار اخستل پکار دی۔

۹۵ – اَلْعِلْمُ عِلْمَانِ : عِلْمُ الْأَبْدَانِ وَعِلْمُ الْأَدْيَانِ.

**ترجمه** : علمونه دوه قِسمه دی : جسمانی علم (طب وغیره) او دینی علم۔

**تشریح** : امام صغانیؒ، امام شوکانیؒ، امام هرویؒ او امام عجلونیؒ دا حدیث موضوع او منکرت گنڑلے دے۔

(موضوعات للصغانی، ص : ۲، الفوائد المجموعة ص : ۲۸٤، المصنوع فی معرفة الحدیث الموضوع ص ۱۲۳، کشف الخفاء ۲/۶۸).

دا حدیث په دے وجه هم خطاء دے چه په دے کښ دے دواړو ته یو شان علمونه وئیلے شوی دی، حالانکه ددے



دواړو مرتبه دَ یو بل نه ډیره زیاته جدا ده ! اصلی علم خو دینی علم دے۔ او پاتے شو دنیوی علمونه نو دے ته معلومات وئیلے کیږی، علمونه ورته نهٔ وئیلے کیږی۔ خاصکر چه څوك دینی علم نهٔ لری او طب وغیره نور فنون ئے زده وی، نو دے هغه فضیلت نشی حاصلولے کوم چه دَ یو دینی عالم فضیلت دے۔ دا صرف په دے دنیا کښ کمال گنڑلے کیږی۔ لیکن که یو انسان ته صرف علمِ طب زده وی او دَ شرعی علم نه بیخی ناخبره وی، نو دا دَ الله په نیز جاهل گنڑلے کیږی۔ الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ یعلمون ظاهرا من الحیاة الدنیا وهم عن الآخرة هم غافلون ﴾۔

(دا خلق دَ دنیا په ظاهری ژوندون باندے پوهیږی، او دویٔ دَ آخرت نه غافله دی)۔

۹۶ – اَلْعِلْمُ فِی الصِّغَرِ كَالنَّقْشِ فِی الْحَجَرِ.

**ترجمه** : په ماشومام والی کښ علم حاصلول، په کاڼړی باندے دَ لیکلو پشان دی۔

**تشریح** : یعنی په ماشوم والی کښ علم حاصلول داسے مضبوط او پاخهٔ وی لکه دَ کاڼړی کربښه۔ کوم شے چه دَ ماشوم والی په زمانه کښ یاد شی، نو هغه دَ انسان نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



غالباً بيا نۀ هيريږي۔ امام ابن تيميةؒ فرمائي : دا دَ نبي كريم ﷺ كلام نۀ دے۔ بلكه چا دَ ځانه جوړ كړے دے۔ هسے خپله تجربه ئے ليكلے ده۔ نو ددے حديث نسبت نبي كريم ﷺ ته كول او دَ حديث په شكل بيانول حرام دي۔

(منهاج السنة ٥٢٦/٧، اللآلي المصنوعة ١٧٨/١، الحد الحثيث في بيان ما ليس بحديث ص ١٤٧، كشف الخفاء ٣٦٢/١).

٩٧ – اَلسَّخِيُّ مِنِّيْ وَاَنَا مِنْهُ وَاِنِّيْ لَاَرْفَعُ عَنِ السَّخِيِّ عَذَابَ الْقَبْرِ.

**ترجمه** : سَخي مانه دے او زۀ دَ هغۀ نه يم (يعني زمونږ دَ دواړو تعلق مضبوط دے) او زۀ دَ سَخي نه دَ قبر عذاب پورته كوم۔

**تشريح** : په دے كښې شك شبه نشته چه سخاوت ښۀ شے دے او شريعت ديته ترغيب وركړے دے۔ ليكن رسول الله ﷺ ته ددے حديث نسبت كول جائز نۀ دي۔ ځكه چه دا رسول الله ﷺ نۀ دے وئيلے۔ بے بنياده حديث دے۔ لكه څنګه چه علامه شوكانيؒ او علامه طاهر پټنيؒ وئيلي دي۔



(الفوائد المجموعة ص : ٨١، تذكرة الموضوعات ٦٣/١، تنزيه الشريعة ١٧١/٢).

دَ عذابِ قبر لرے كيدو دپاره نور شرعي اسباب شته دے چه كله هغه انسان اختيار كړي نو الله ته ئے دَ عذابِ قبر نه خلاصوي۔ چه ددے بيان په (الفوائد) كتاب كښې اوګورئ۔

٩٨ – تَوَسَّلُوْا بِجَاهِيْ، فَاِنَّ جَاهِيْ عِنْدَ اللهِ عَظِيْمٌ.

**ترجمه** : تاسو زما په مرتبه باندے وسيله نيسئ ځكه دَ الله په نيز زما لويه مرتبه ده۔

**تشريح** : شيخ الاسلام ابن تيميةؒ او شيخ البانيؒ فرمائي چه ددے حديث هيڅ بنياد نشته۔

(اقتضاء الصراط المستقيم لابن تيمية ٤١٥/٢١، السلسلة الضعيفة ٢٢).

لهذا دَ رسول الله ﷺ په جاه يا طفيل يا صدقه وغيره سره دعاء غوښتل بدعت دے۔ نبي كريم ﷺ په صحيح احاديثو كښې ددے هيچرته امر نۀ دے كړے۔ او دعاء عبادت دے، او دَ عبادت بنياد په نقل باندے وي۔ او دا چرته نۀ دي نقل چه صحابه كرامؓ دَ نبي كريم ﷺ په جاه او مرتبه باندے دَ الله نه دعاء غوښتلے وي۔ كه چرے دا كار جائز وے

نو خامخا به صحابه کرامؓ کړے وے۔

٩٩ – مَنْ نَامَ بَعْدَ الْعَصْرِ، فَاخْتُلِسَ عَقْلُهُ، فَلَا يَلُوْمَنَّ اِلَّا نَفْسَهُ.

**ترجمه** : څوك چه مازيګر نه پس اودهٔ شو او ددهٔ عقل ختم شو نو دَ خپل نفس نه علاوه بل هيڅوك دے نهٔ ملامته کوی۔

**تشريح** : دے روايت ته امام ابن جوزیؒ، امام سيوطیؒ او امام ذهبیؒ ټولو منکړت او موضوع وئيلی دی۔

(الموضوعات لابن الجوزی ٣/٦٩، اللآلی المصنوعة ٢/٢٧٩، ترتيب الموضوعات ٨٣٩).

دے وجے نه مازيګر نه پس خوب کول منع نهٔ دی۔ او نهٔ پرے دَ انسان عقل خرابيږی۔

١٠٠ – اَصْحَابِىْ كَالنُّجُوْمِ بِاَيِّهِمُ اقْتَدَيْتُمْ اهْتَدَيْتُمْ.

**ترجمه** : زما صحابه دَ ستورو پشان دی، په دوئ کښ چه دَ هر چا پيروئ کوئ، هدايت به بيامومئ۔

**تشريح** : دا حديث په خلقو کښ ډير زيات مشهور دے، حالانکه دا دروغژن او باطل حديث دے۔ امام ابن حزمؒ او شيخ البانیؒ دے حديث ته دروغژن، باطل او منکړت وئيلی دی۔

(c) ketabton.com: The Digital Library


(الاحكام فى أصول الاحكام: ٥/٦٤، السلسلة الضعيفة ٦٦، جامع بيان العلم وفضله ٢/٩١).

ددے حديث نسبت رسول اللهﷺ ته کول جائز نهٔ دی۔ دا حديث دَ سند، معنیٰ او عقل درے وارو په لحاظ سره ثابت نهٔ دے۔

تفصيل دپاره (فتاوی الدين الخالص اول جلد) اوګورئ۔

OOOOOO

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**